له رياض الصالحين ثخه

# آسان جنتي عملونه


ليکوال:

أبو عبد الله محمد بن عبد الله العبدلي

ژباړن:

لقمان حکيم حکمت




WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

# يادونه

د اسلامي لارښود سائټ www.larkhud.com
له ليکلي موافقې پرته هيڅ چاته اجازت نه ورکوي چې نشريات
يې په کتابي بڼه نشر او اشاعت کړي، دا عمل اخلاقي او قانوني
جنايت بولي، د سرغړونې په صورت کې د هر ډول محکمې بشپړ
حقوق لري.

په درنښت
د اسلامي لارښود سائټ اداره

www. Larkhud.com

Scanned by CamScanner

له رياض الصالحين ڤخه:

# جنتي آسان عملونه

ليكوال: ابو عبدالله محمد بن عبدالله بن محمد العبدلي
ژباړن: لقمان حكيم حكمت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله، والصلاة والسلام على خير خلق الله، محمد وعلى آله وأصحابه ومن والاه، ومن اهتدى بهديه واقتفى أثره الى يوم الجزاء والدين.

اما بعد: سمه ده چې اسلامي دين ډېر اسان د مهربانۍ او سهولت دين دی، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (وما أَحدٌ أكثرُ معاذِير مِنَ الله) له الله پرته د بخښنې لپاره هغه ثومره اسان عملونه او په اندک عمل د انسان د بخشش لپاره کومې بهانې اوعذرونه ګوري بل ثوک نشته، له رياض الصالحين ثخه د فضيلة الشيخ محمد بن عبدالله العبدلي دغه غورچاڼ په نيکو عملونو باندې د انسان د تيزې لپاره بسيا کوي، حقيقت دی چې مذکور عملونه ډېر اسان او نهايت زيات اجرونه او مثوبت لري.په دې خاطر چې له نيکو عملونو سره ټينګه اړيکه ولرو، له الله پاک سره مو په تعلق کې پرمختګ راشي، او په فطرت باندې د انسان پيدائښت ته وده ورکړو ما له ليدو سره سم په دې کتاب قلم کښود ترڅو پښتو ته يې د ديني خدمت په خاطر وژباړم چې د نيک عملو انسانانو لپاره زيری او ناراسته خلک پرې الله پاک چست او ګړندي کړي . رب کريم دې له ما ثخه دا عمل په خپل دربار کې قبول کړي او د مزيد نيک عمل توفيق له رب پروردګار ثخه دزړه له تله غواړم، الله پاک د دعا ډېر ښه اورېدونکی، مهربان باچا او د کامل رحم ښښتن دی.

لقمان حکيم حکمت

Hekmat٠٣٤٤@gmail.com

٣١/١٢/٢٠١٨

WWW.LARHKUD.COM

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له.

وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيراً.

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلاّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} [عمران:١٠٢].

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً} [النساء: ١].

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيدا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً} [الأحزاب:٧٠، ٧١].

اما بعد: فَإِنَّ أَحْسَنَ الحَدِيْث كِتَابُ اللهِ وَخَيْرَ الهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ شَرَّ الأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُها وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ وَكُلَّ ضَلاَلَةٍ فِيْ النَّارِ.(١)

د الله پاک فرمانبرداري هغه غوره عمل دی چې باید زندګي پرې تېوله تېره شي او په همدې سره انسان جنت ته لاس رسی لرلی شي او الله پرې ډېر ښه راضي کیږي، که د الله اطاعت نه وی نو د الله نیک عمله

(١) مسند احمد: ( ١٤٣٣٤، ١٤٤٣١، ١٤٩٨٤)، صحيح مسلم: (٨٦٧)، سنن ابن ماجه: (٤٥)، سنن النسائي: (١٥٧٨).

بندګانو به په دنیا کې د بقاء هيڅ رغبت نه درلود، له هر انسان سره ښايي چې له هغو نیکو عملونو څخه د ځان لپاره توښه واخلي چې اړوند يې الله پاک فرمايي: [ وَ البَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَاباً وَخَيْرٌ أَمَلاً ] (سورت الكهف: ٤٦ ).

ژباړه: هغه نیک پاتې کېدونکې نیک عملونه هم د ثواب له اعتباره ښه دي او هم ورڅخه د امېد ساتلو په اعتبار.

ایکې یواځې نیک عملونه دي چې هم د مسلمان بنده لپاره په دنیا کې پاتې وي او هم ورته په اخرت کې ګټه او فاید رسوي، په صحیح حدیث کې راځي نبي کریم صلى الله علیه وسلم فرمايي: [يَتْبَعُ المَيِّتَ ثَلاَثَةٌ، فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ: يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ، فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ ] (١)

ژباړه: په میت پسې درې شیان وروسته کیږي، دوه ترې راستنیږي او یو ورسره پاتې وي، کورني غړي، مال او عمل يې ورپسې وي، کورني غړي او مال يې راستون او عمل يې ورسره پاتې وي.

پر بندګانو باندې د الله فضل او کرم دی چې د نیکو عملونو دروازه يې ورته پرانیستې ده، که څه هم نیک عمل ډېر لږ وي خو بې چروته ثوابونه

---

(١) صحيح البخاري: (٦٥١٤)، صحيح مسلم: ٢٩٦٠).

او بلا ډېر اجر پرې ورکول کيږي، الله پاک فرمايي: [ فَضْلاً مِنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً وَاللّٰهِ عَلَيْمٌ حَكِيْمٌ ] ( سورت حجرات: ٨ ).

ژباړه: دا د الله له اړخ کرم او لورينه ده او الله پاک ښه عالم او د پوره حکمتونو والا دی.

او هرڅوک پوهيږو چې مونږ ډېر ګناهونه لرو، په عبادتونو کې تکاسل، په واجباتو کې تقصير، او حرام کارونه کو، زړونه مو سخت دي او نفسونه مې له خير ښيګړې سره نفرت لري، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوّةَ اِلاّ بِاللّٰهِ العَلِيّ العَظِيْمِ.

او ښکاره خبره ده چې اسلامي شريعت د ژوند ټولو برخو ته شمول لري، اسلام له رب پروردګار سره د افرادو تعلق او د افرادو خپل منځ کې اړيکو ته نظم او نسق ورکړی دی، هيڅ د خير او ښيګړې کار نشته مګر اسلام ورته مونږ دعوت کړي يو او په کولو يې مونږ هڅولي يو، او نه رزيل او بې رنګه کارونه شته مګر اسلام ورڅخه خلک ځان ژغورلو ته دعوت کړي دي.

له خوراک او څښاک څخه انسان نېک عمل ته ډېر اړين دی، که څوک خوراک څښاک ونه کړي نو ژوند به له لاسه ورکړي خو که څوک عمل صالح ونه لري نو که څه هم په دنيا کې يې سر په مزو چړچو وي خو اخرت کې له اور پرته بل ځای نه لري.

WWW.LARKHUD.COM

هر څوک پوهیږي چې جنت د هر مسلمان ارزو ده خو له نېک عمل پرته يې حصول ناشوني دی، اعمال صالحه که څه هم خپله ډېر دي خو دلته يې مونږ په مختصره توګه هغه ډول ذکر کول غواړو چې امام نووي رحمه الله يې په خپل کتاب ( رياض الصالحين ) کې يادونه کړې ده چې له جنت پرته بله بدله نه لري، ما يې د نوم انتخاب وکړ [ **الأعمال التى ثوابها الجنة من رياض الصالحين** ] ، عملونه عام لفظ دی چې د زړه او جوارحو عملونه هم ورېکې داخل دي، له الله څخه د عملونو د توفيق سوال کو.

<u>د موضوع د اختیارولو لاملونه:</u>

١ – : د جنت ګټلو ته د مورالونو لوړول، ځینې مهال نېک عمل که څه هم کوچنی وي د الله په نېز ستر عظمت لري.

٢ – : خلکو ته د خير ښېګړې کارونه ورزده کول ترڅو اجر عظيم تر لاسه کړي، ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [الدّالّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهِ ] (١)

ژباړه: د خير ښېګړې کارونو ته د ښوونکي ثواب د کونکي په څېر دی.

---

(١) مسند احمد: (٢٣٠٢٧)، سنن ابي داود: (٥١٢٩)، سنن الترمذي: (٢٦٧٠).



WWW.LARHKUD.COM

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [فَوَاللهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ ] (١)

ژباړه: قسم پر الله چې که پر تاسره الله پاک يو سړي ته هم هدايت وکړي نو ستا لپاره له قيمتي اوښانو څخه غوره دي.

د دې موضوع اهميت:

جنت د متقيانو، د نيکانو خلکو او د الله په کتاب باندې د عمل کونکو دائمي کور دی، او نيک عملونه جنت ته د تللو ډېر ښه اسباب او د ايمان د صحت لپاره شرط دی، له دې کبله الله پاک د قران کريم په ګڼ شمېر ايتونو کې ايمان او عمل صالح يو ځای ذکر کړی دی، الله پاک فرمايي: [إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا * خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ] (٢)

ژباړه: په يقين سره هغه خلک چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه کوي نو د فردوس جنتونه د دوی لپاره د ميلمستيا ځای دی، دوی به وريکې د تل لپاره وي چې ورڅخه اوختل به بيخي نه غواړي.

---

(١) مسند احمد: (٢٢٨٢١)، صحيح البخاري: (٣٧٠١، ٤٢١٠)، صحيح مسلم: (٢٤٠٦).

(٢) سورت کهف: ( ١٠٧- ١٠٨ ).

او الله پاک فرمايي: [وَالْعَصْرِ * إِنّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلّا الّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصّبْرِ ] (١)

ژباړه: زما دې په مازديګر (يا زمانه) باندې قسم وي چې انسان په تاوان کې دی، مګر هغه خلک چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه کوي، په حق او صبر باندې يو بل ته توصيه او نصيحت کوي.

نو دلته الله پاک په زمانه باندې لوړه پورته کړې ده چې انسان تاواني دی، په [انّ الاِنْسَانَ ) کې الف لام د جنس لپاره دي نو د عموم معنا ورکوي، مطلب: هر انسان په تاوان کې دی، خو له تاوانيانو څخه الله پاک بيا مومنان بندګان چې نېک عملونه يې پېشه ده مستثنی کړي دي، ځکه ايمان (قول، عقيده او عمل ) ته ويل کيږي، ايمان د ژبې اقرار، د بدني غړو عملونه دي چې په اطاعت سره زيادت او په عصيان سره کمښت پيدا کوي، همدا د ايمان اړوند د اهل السنت والجماعت عقيده ده، دا چې نېک عملونه جنت ته د تللو اسانه لاره ده ما هوډ وکړ چې د امام نووي رحمه الله له کتاب رياض الصالحين څخه يې راغونډ کړم ترڅو ورباندې ځان پوهول او د اعمالو کول دواړه انسان ته اسان شي او ګټه ورڅخه واخلي، ځکه دلته ټول عملونه په يو ځای مذکور دي، له

---

(١) سورت العصر: (١ – ٣)

رب پروردګار څخه امېد لرم چې څنګه په رياض الصالحين يې خلک ګټور کړي دي په دې کتاب به هم خلک ګټور کړي.

د کتاب په ليکلو کې زما تګلاره :

د رياض الصالحين د کتاب مخ مخ مې وکتو ترڅو د دې موضوع اړوند ټول حديثونه راغونډ کړم او ترڅنګ مې ورله تخريج هم کړی دی، که حديث د صيحيحينو يا وريکې يو روايت کړی وي نو ما د حديث شمېر، کتاب او باب په ذکر بسنه کړې ده، که کوم حديث له صحيحينو پرته په نورو کتابونو کې وي نو زيار مې ويستی چې کامل تخريج يې وکړم او په ترڅ کې يې د غښتلي محدثينو ويناوې لکه امام الباني، اما مقبل بن هادی الوادعي رحمهما الله ذکر کړم، که امام نووي رحمه الله کوم حديث نيم ذکر کړی دی نو هغه کتاب ته مې رجوع کړې ده چې امام نووي رحمه الله ورڅخه حديث روايت کړی دی او دلته مې حديث له پوره متن سره ذکر کړی دی .

کتاب مې تمهيد او درې فصلونو ته ويشلی دی:

لومړی فصل: د زړونو هغه عملونه چې بدله يې جنت دی.

دوهم فصل: د ژبې هغه عملونه چې بدله يې جنت دی.

دريم فصل: د جوارحو هغه عملونه چې بدله يې جنت دی.

په هر فصل کښې شمېر عملونه دي، که کوم عمل له دوو عملونو لاندې ذکر وي نو په هغه باب کې يې يادونه کوم چې امام نووي رحمه الله چرته ذکر کړی وي، د نمونې په توګه د ژبې او زړه عمل لکه دا حديث:

[مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ ].

د حديث له ظاهر څخه خو برېښي چې عمل له ژبې سره په اړيکه کې دی خو امام نووي رحمه الله د ( رجاء ) په باب کې ذکر کړی او رجا د زړه له عملونو څخه شمېرل کيږي، نو ما هم حديث د زړه په اعمالو کې راوړی دی.

په اخره کې مې د حديثونو فهرس، مراجع او نور مواضع هم ذکر کړي دي.

WWW.LARKHUD.COM

<u>د کتاب خطه:</u>

تمهيدي فصل چې په دوو مبحثونو مشتمل دی:

دامام نووي رحمه الله پېژندګلو، د هغه نوم  او کنيه، د هغه استاذان، د علم پسې طلب، د هغه ليکنې، د زيږېدو او وفات ځايونه.

د رياض الصالحين کتاب پېژندګلو.

لومړی فصل: د زړه هغه عملونه چې بدله يې جنت دی:

الرجاء: [ د توحيد د کلمې فضيلت او د شرک ستونزمنې پايلې )

د مخصوصو سورتونو او ايتونو لوستلو ته تيزي.

د صبر فضيلت.

يقين او توکل.

دوهم فصل: د ژبې هغه عملونه چې بدله يې جنت دی.

د رښتيا ويلو فضيلت

د خير ښېګړې په کارونو باندې د زيري ورکولو استحباب

د سلام کولو فضيلت او د سلام په نشرولو باندې امر

د ذکر او اذکارو فضيلت او ورباندې تيزي.

د چا د مړيني په مهال بايد څه وويل شي او که د چا رشته دار وفات شي بايد څه ورته وويل شي؟

د غيبت تحريم او د ژبې په مهارولو باندې امر.

د درواغو تحريم.

دريم فصل: د جوارحو هغه اندامونه چې ثواب يې جنت دی:

د اودس غوروالی.

د سهار او مازديګر لمونځونو فضيلت.

مسجدونو ته د تللو ثواب.

له فرض لمونځونو سره د سنت لمونځ کول، د لړو، د پوره او ترمنځ اړوند يې پوره بيان.

د قيام الليل فضيلت.

د جهاد فضيلت.

WWW.LARKHUD.COM

د ډېرو سجدو فضیلت.

د الله له ویرې د ژړا فضیلت.

د غریب غربه او ناداره خلکو فضیلت او بهتري.

په ښځه باندې د سړي بهتري.

د نبوي سنتونو باندې د پابندۍ امر.

د خیر ښېګړې د بېلابېلو لارو بیان.

له دیندارو خلکو سره لیدل کتل، له هغوی سره مجلسونه کول او د ملاقات لپاره ورځخه وخت اخستل.

د خپل لاس ګټې وټې خوړلو فضیلت او له سوال کولو څخه ډډه کول.

انصافداره سرپرست.

بیمارپرسي او له جنازې سره تلل.

په معصیت کې د چارواکو د خبرو منلو تحریم او په غیر معصیت کې یې د خبرې د منلو بهتري.

د زکات د وجوب، فضیلتونه او ځیني مسائل.

د رمضان د روژې وجوب او غوره والی.

د حج وجوب او غوره والی.

له رب پروردګار څخه هیله لرم چې په قول او عمل کې راته د اخلاص توفیق راکړي او له تیروتنو څخه مو په خپلو ټولو حرکاتو او سکناتو او په

WWW.LARKHUD.COM

ټولو اقوالو کې محفوظ وساتي، الله پاک په هر څه باندې قدرت لرونکی دی.

ابوعبدالله محمد بن عبدالله بن محمد بن محمد العبدلي

١ / جمادی الثانی / ١٤٢٩ هـ

WWW.LARHKUD.COM

تمهید فصل: په دې کې دوه مبحثونه دي:

لومړی مبحث: د امام نووي پېژندګلو.

دوهم مبحث: د رياض الصالحين پېژندګلو.

WWW.LARKHUD.COM

## لومړی مبحث: د امام نووي رحمه الله پېژندګلو

○ د امام نووي رحمه الله نوم او کنیت:

نوم يې يحيى د شرف الدين ځوی او کنيت يې ابو زکريا دی، ځينې علماء وايي چې نوم يې يحيى د شرف ځوی او د مري بن حسين بن محمد لمسی دی، په مذهب شافعي او غښتلی فقيه دی، حافظ او زاهد بنده و، د علم پیاوړی شخصیت او له دمشق ښار سره يې تعلق درلود. (۱)

○ تحصيل او زده کړې:

امام نووي رحمه الله په خپل کلي ښار کې قران ياد کړ او له نولس کلنۍ وروسته د دمشق ښار ته پلار راوست، هم هلته په مدرسه الروحيه کې پاتې شو، امام نووي وايي: هلته مې دوه کاله داسې تېر کړ چې ځمکې ته نه يم ډډه شوی، نزدې شاوخوا څلور نيمو مياشتو کې مې ( التنبيه ) هم ضبط کړ.

د ( وَيَجِبُ الغُسْلُ مِن اِيْلاَجِ الحَشْفَةِ فِيْ الفَرْجِ ) د لوستلو سره مې وانګېرل چې ګڼې دا به د خيټې قوړار ته وي ويل کيږي، تر دوو مياشتو پورې داسې وم چې کله به مې خيټې قوړار وکړ نو ما به غسل کول.

---

(۱) شذرات الذهب: ( ۷ / ٦۱۸) د ابن عماد ليکنه، الاعلام: ( ۸ / ۱٤۹ ) د زرکلي ليکنه، طبقات الشافعية : ( دوهم مجلد: ٤ / ۱۱۰ ).

او د کال تر پای پورې مې د ( المهذب) څلورمه برخه هم په يادو ضبط کړه، ما به ( المهذب ) تشريح کو او خپل استاذ کمال الدين اسحاق المغربي ته به مې وړاندې کو، په دې سره زه هغه ته ډېر ګران شوم او له ماسره يې مينه پيدا شوه، ما به يې درسونو ته په ځانګړې توګه حاضرې ورکوله.

د ( ٥١ ) هجري کال د هفتواره رخصتۍ کې مې د خپل پلار په ملتيا حج وکړ، دا چې د رجب د مياشتې پيل و نو په مدينه کې تر يوې نيمې مياشتې پورې پاتې شول، پلار يې وايي چې تبې ونيو خو تر عرفې پورې يې اوف هم نه دی کړی.

امام نووي به هره ورځ خپلو استاذانو څخه په شرح او تصحيح کې دولس درسونه اخستل، دوه په ( الوسيط ) کې، يو درس په صحيح مسلم کې، او يو درس په ( المهذب ) کې، يو درس په ( الجمع بين الصحيحين ) کې، يو درس د ابن جني په کتاب ( اللمع ) کې، يو درس د ابن سکيت په کتاب ( اصلاح المنطق ) کې، يو درس په اصول الفقه کې، کله به يې ( اللمع ) او کله به يې ( المنتخب ) د فخر الدين کتاب کې درس اخسته، يو درس به يې په ( أسماء الرجال ) او يو به يې په اصول الدين کې اخسته.

هغه به د مشکل الفاظو د شرحې تر څنګ د عبارتونو په وضع او د لغت په ضبط کې وخت ګټوره و، بيا يې ذهن طبابت ته مائله شو او د طب په

علم بوخت شو، هغه وايي: طب ته مې زړه میلان وکړ نو د ( القانون ) طبي کتاب مې وپېر، او هوډ مې وکړ چې په پوره توګه ورپسې بوخت پاتې شم، خو زړه مې تورتم تورتم شو، دا راته الله پاک الهام کړ چې زما د رنځ لامل په طبابت باندې بوختيا ده نو بېرته مې د ( القانون ) کتاب وپلور او زړه مې رڼا شو.

امام ذهبي رحمه الله وايي: هغه تر شلو کالو پورې ورځ او شپه علمي بوختيا ولرله، ان چې پر خپلو ملګرو يې تفوق ودرلود او له ډېر شاګردانو مخکې ولاړ، په علم او عمل کې يې کافي سبقت پيدا کړ، او د ( ٦٦٠ ) هجري کال په شاوخوا کې يې تصنيف ته مخه کړه چې تر مرګه پورې په تصنيف کې پاتې شو، له رضي بن برهان، زين خالد، عبدالعزيز الحموي څخه يې ډېرې زده کړې کړې وې، له پراخه علم او په علم حديث، فقه، لغت او نورو عملونو کې له تبّحر باوجود هغه د زهد او پرهيزګارۍ ډېره ښه نمونه وه، په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې يې سارى نه درلود، پر لږو به يې قناعت کو او د الله پر پرېکړو ډېر راضي و، په خپل پوښاک، خوراک او ښباک کې يې بې حده ګوزاره کوله، الله ډېر هيبت او جلال ورکړى و، له ابوشامه شهاب الدين رحمه الله وروسته يې د دار الحديث سرپرستي په غاړه لرله، هغه به په هغه څه قناعت کو چې پلار به يې ورته واستول.

❍ ليكنې او ديني اثار:

١ – : الروضة.

٢ – : المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج.

٣ – : المنهاج.

٤ – : المجموع شرح المهذب.

٥ – : الأذكار.

٦ – : رياض الصالحين.

٧ – : الايضاح في المناسک.

٨ – : التبيان في آداب حملة القران.

٩ – : الايجاز في المناسک.

١٠ – : تحرير ألفاظ التنبيه.

١١ – : العمدة في تصحيح التنبيه.

١٢ – : الأربعين النبوية.

WWW.LARHKUD.COM

❍ په امام نووي رحمه الله باندې د خلکو صفتونه:

ډېرو علماؤ د امام نووي رحمه الله د ښه سړيتوب صفتونه کړي دي چې بيلګې يې په دې توګه دي:

– : ابن العطار وايي: امام نووي رحمه الله به خپل وختونه په علم او عمل باندې ګټور کول، هغه به په ورځ او شپه کې ايکې

يواځې د ماسخوتن نه وروسته ډوډۍ خوړله، او ايڪې يواځې به د سهار په مهال په شپه اوورځ کې يو ځل اوبه څښلې، هغه نڪاح هم نه وه کړې.

- : ابن ناصرالدين وايي: امام نووي حافظ او د اقتداء لپاره ډېره ښه نمونه ده، امام او شيخ الاسلام دی، هغه د دې امت فقيه او د امامانو مشرتابه دی.

- : أسنوي وايي: د امام نووي رحمه الله په ګيره کې ايله سپين ويښته لګيدلي وو او خو له فقهاؤ سره په بحث او مباحثه کې د ډېر هيبت او جلال څښتن وو او ډېر غيرتي انسان وو، هغه د قدس او خليل ښارونو ته هم تللی وو، خو چې بېرته خپل کلي ته د راستنيدو په مهال د خپل کلي په دروازه کې ناجوړه شو او هم هلته ومړ. (١)

❍ د امام نووي رحمه الله استاذان:

د امام نووي رحمه الله په استاذانو کې يو هم سراج الدين بلقيني –ابن الملقن – دی، او حديثونه يې له شيخ زين الدين العراقي څخه زده کړي وو، اصول يې له عزالدين بن جماعه څخه زده کړي وو، په په نحو کې د محب الدين هشام شاګرد پاتې شو وو، تر دې چې ده به د امام نووي رحمه

(١) شذرات الذهب في أخبار من ذهب: (٧ / ٦٢٠ – ٦٢١ )، د ابن عماد ليکنه.

الله اړوند ویل: مونږ ته د علم په طلب کې له مصر څخه له نووی نه بل بهتر څوک نه دی راغلی. (۱)

ابن کثیر رحمه الله وايي: حديثونو يې له بېلابېلو استاذانو څخه زده کړي ول لکه: رضي بن برهان الدين : له ده څخه يې صحيح مسلم ويلی و، شيخ شمس الدين بن أبي عمرو بن الشيخ عماد الدين بن خرستاني، اسماعيل بن بن أبي اليسر، زين بن خالد، او له حافظ عبدالغني څخه يې الكامل لوستلی و، شرح صحيح مسلم او صحيح البخاري يې زياتره له ابو اسحاق بن عيسى المرادي څخه لوستلي دي، د حديثونو کوم کتابونه چې يې لوستلي دي په دې ډول دي:

صحيح البخاري، صحيح مسلم، سنن أبي داود، سنن الترمذي، سنن النسائي، سنن ابن ماجه، سنن الدارقطني، شرح السنة، مسند الامام الشافعي، مسند احمد بن حنبل او داسې نور کتابونه.

فقه او اصول فقه يې هم له ګڼ شمېر علماؤ څخه زده کړي ده چې له جملې څخه يې : قاضي ابو الفتح النفيس، اسحاق المغربي، سلام الأيلي، امام شمس الدين عبدالرحمن بن نوح، عزالدين بن عمر بن أسعد ايلي.

❍ د امام نووي رحمه الله شاګردان:

---

(۱) طبقات الشافعية ، دوهم مجلد: ( ٤ / ١١١ ).



WWW.LARKHUD.COM

د شاګردانو له جملې څخه يې :

قاضي صدر الدين داراني، علامه علاء الدين بن العطار، حافظ ابو الحجاج المزي، قاضي محيي الدين الزرعي، شهاب الدين الأندري، آمين الدين سالم بن الدرو، قاضي شمس الدين بن النسيب چې په حلب کې د سترې محکمې رئيس و. (١)

❍ د امام نووي رحمه الله پيدائښت:

امام نووي رحمه الله په (٦٣١) هـ کال د محرم په مياشت کې پيدا شوی دی(٢)، او ځينې علماء يې د ولادت تاريخونه نور هم ذکر کوي. (٣)

❍ د امام نووي رحمه الله وفات:

امام نووي رحمه الله د چهارشنبې په ورځ د رجب په خوارلسم تاريخ په خپل کلي کې وفات شوی دی. (٤)

او ځينې علماء وايي چې په ( ٦٧٦ ) هجري کال د رجب په ځلور ويشتم تاريخ په دمشق کې وفات او په (نوا) کې پرې صلاة جنازه وشوه او هم هلته خاورو ته وسپارل شو.

(١) طبقات الفقهاء الشافعيين: ( ٢ / ٣٤٧ – ٣٤٨ )، د امام ابن کثير ليکنه، تحقيق: انور الباز، لومړی چاپ: ١٤٢٥ هـ دار الوفاء .

(٢) شذرات الذهب: ( ٧ / ٦١٨ )، طبقات الفقهاء الشافعيين: ( ٢ / ٣٤٧ ).

(٣) طبقات الشافعية : ( ١١١ ).

(٤) طبقات الفقهاء الشافعيين: ( ٢ / ٣٤٩ ).

دوهم مبحث: د رياض الصالحين د کتاب پېژندګلو:

د امام نووي رحمه الله له ليکنو څخه يو هم رياض الصالحين دی، هغه په دې کتاب کې د ادب، تربيت، تهذيب او اخلاقو اړوند دخير ښېګړې ټول هغه بابونه راغونډ کړي دي چې انسان يې پر عملي بڼې راتيزوي، او د ګناه او سرکشۍ اړوند يې هغه بابونه هم ذکر کړي دي چې خلک ځان ژغورنې ته هڅوي.

رياض الصالحين کتاب خپل لوستوال د خير ښېګړې کارونو ته په نرمه لهجه راکاږي، نووي رحمه الله خپل کتاب د اخلاص له باب څخه شروع کړی دی چې په ترڅ کې يې د صدق، يقين، د نيت طهارت، الله پاک ته نېکه توجه، پر الله پوره باور او بروسه بابونه ذکر کړي دي، د کتاب خپله پيليزه لوستوال دې ته راکاږي چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سنتو ته په ژمنتيا کې صادق رغبت ولري او پر هدايت يې رهی شي او په دې جريان کې د ثواب اميد ايکې يواځې له الله څخه ولري، امام نووي رحمه الله نظر درلود چې دا ډول کړه وړه له خلکو سره په نېک تعامل او تقوی باندې مرسته ده، د تل لپاره به يې د الله پاک دا قول ياد و چې [وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ] (١)

(١) سورت مائده: ( ٢ ).



WWW.LARHKUD.COM

ژباړه: په نېکو کارونو او تقوا باندې له يو بل سره مرسته وکړئ او په ګناه او ظلم باندې له هيڅ چا سره مرسته مه کوئ، له الله څخه وډار شئ په يقين سره چې الله پاک د سختې سزا والا دی.

او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا قول به يې له ياده نه وتو چې هغه فرمايي: [مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ ] (١)

ژباړه: څوک چې د خير ښېګړې شيانو ته د چا ښوونه وکړي نو د کونکي د ثواب په څېر ثواب به ورکړل شي.

او بل دا چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: [مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى، كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا] (٢)

ژباړه: څوک چې د خير ښېګړې کارونو ته د چا لارښونه وکړي نو چې څومره خلک يې خبره مني د هغو په څېر اجر او ثواب به يې کيږي، سره له دې چې د هغوی له اجرونو څخه به هيڅ هم نه کميږي.

زمونږ پرې همدغه ښه ګمان دی او حساب کتاب يې له الله سره دی.

❍ په رياض الصالحين کې د امام نووي رحمه الله تګلاره:

(١) صحيح مسلم: ( ١٨٩٣ ).

(٢) صحيح مسلم: ( ٢٦٧٤ ).

امام نووي رحمه الله خپله تګلاره د رياض الصالحين په مقدمه کې څرګنده کړې ده، هغه وايي: ما غوښتل چې له صحيحو حديثونو څخه داسې مختصره ټولګه راغونډه کړم چې اخرت ته په رسيدلو کې له انسان سره مرسته کوي، او ورته ظاهري او باطني ادبونه ورزده کوي، داسې ټولګه چې اخرت ته په سفر روان مسافرو ته د کارونو اړوند ترغيب يا ترهيب ورکوي، داسې ټولګه چې د زهد، د نفسي رياضت، د اخلاقو د تهذيب، د زړونو طهارت او علاج، اندامونه محفوظ ساتل چې کاره واره نه شي، او داسې نورې موخې چې د اسلامي شريعت عارفين يې سپيڅلې موخې بولې.

د الله لورې ته د دعوت پر بنسټ امام نووي رحمه الله په خورا مهارت سره له شپړو باور وړ کتابونو څخه حديثونه په دې شرط چڼ کړل چې صحيح حديثونه به وي، هغه وايي: زيار به اوباسم چې له صحيح حديث پرته نور څه را نه وړم هغه هم چې صحيحو مشهور کتابونو ته به دروست نسبت لري، هېره دې نه وي چې د هر باب اغاز به په قراني ايتونو سره کوم او په ترڅ کې به د مجملو کلماتو نفيسه معنا هم ذکر کوم، که د حديث په پای کې ووايم چې (مُتّفَقٌ عَلَيْهِ ) معنا به دا وي چې ياد حديث امام بخاري او مسلم دواړو روايت کړی دی.

امام الباني رحمه الله د امام نووي رحمه الله په کلام تعليقاً وايي: زه يې په کلام دوه نيوکې لرم:

لومړۍ نيوکه: له صحيح حکم څخه يې موخه قوى حديث دى چې حديث حسن ته هم شمول لري چې د لومړي محدثينو مذهب و، وړاندې له دې چې ترمذي دغه قول ته شهرت ورکړي او په دې کې هغه د خپلو دواړو استاذانو بخاري او مسلم په نقش قدم تللى دى چې مقبول حديث دوه ډوله لري: صحيح او حسن، خو ولې د محدثينو دا تعامل جائز دى هېڅ باک نه لري.

دوهمه نيوکه: د امام نووي رحمه الله ياده دعوه غالبي دعوه ده، له ډېر پخوا راهيسې مې ديته پام دى چې امام نووي رحمه الله ضعيف او حتى منکر حديثونه هم روايت کړي دي خو له شننې وروسته راته جوته شوه چې دا ډول حديثونه پکې بلا شمېر دي، دا به درته د زما د تعليقاتو له مخې هم په سمه توګه توضيح شي او هم به دې په مقدمه کې ورباندې سر خلاص شي، دلته ورته اشاره کول که څه هم بې باکه خبره ده خو د شمېر له مخې تر څلويښتو ته رسيدګي کوي.

بيا الباني رحمه الله وايي: شايد د امام نووي رحمه الله عذر به هم دا وي چې که څه هم هغه د صحيحو حديثونو په ذکر کولو ډېر حرص کړى دى خو بيا هم ورڅخه د ضعيفو حديثونو روايت په کتاب کې شايد ځکه راغلى وي چې په حديث باندې يې د ترمذي په تصحيح او تحسين باندې بسنه کړې ده، يا يې ابوداود په حکم خاموش پاتې شوى وي، له دې کبله يې په خپل کتاب ( کتاب الأذکار ) په مقدمه کې ذکر کړي دي

چې د حدیث سند جید دی ترمذي نه دی ضعیف کړی، او نه امام نووي رحمه الله یې په سند باندې حکم ته ځان اوزګار کړی دی نو په دواړو باندې یې د حدیث په حکم کې اکتفاء کړې ده، د زیاتره متاخرینو فقهاؤ له حدیثو سره شغل مشغله په دې توګه وي ، په دوی کې ډېر کم فقهاء داسې دي چې په یو یو حدیث باندې یې د حکم سمه پلټنه کړې ده، لکه ابن حجر رحمه الله چې په خپلو ځینو کتابونو کې د یو یو حدیث کلکه شننه کړې ده، په متاخرینو کې به ډېر لږ خلک وي چې د ابن حجر رحمه الله په څېر عملیات یې کړي وي، خو که امام نووي رحمه الله یا پر دې اړخ توجه ورکړې وه او یا ورته په سندونو کې د بحث او شنني موقعه په لاس ورغلې وه نو د حدیث ضعف او علتونه به ورته ښکاره شوي و، او شاید هغه له دې پرته بل عذر هم لري، الله بهتر پوهیږي. (۱)

ټول حدیثونه چې امام نووي رحمه الله په ریاض الصالحین کې راغونډ کړي دي (۱۹۰۵) حدیثونه دي، د خلکو په زړونو کې الله پاک له دې کتاب سره ډېره مینه او قبول ایښی دی، د ډېرې اسانتیا، د ښه مصدر او واضحه حجت له کبله هر مسلمان یې له ځان سره په ساتنه ځانګړې حرص لري، د دې سربېره یې حدیثونه په هغو مضامینو مشتمل دي چې

(۱) په ریاض الصالحین باندې د امام الباني رحمه الله مقدمه: ( ٥- ٦ )، چاپ: المکتب الاسلامي، دوهم چاپ: ١٤٠٤ه.

د مسلمان په نېز ډېر اړين دي که هغه دنيوي امور وي او که ديني، د کتاب د بالغ اهميت له کبله يې علماؤ شرح او توضيح کړې ده او تدريس يې هم نهايت زيات دى، په دې برکتي کتاب باندې ښه او ارزښتناکه شرحه ( دليل الفالحين لطرق رياض الصالحين ) چې محمد بن علان الصديقي الشافعي الأشعري ليکلې ده، بله شرحه يې ( نزهة المتقين شرح رياض الصالحين ) چې دکتورمصطفى سعيد الخن او دکتور مصطفى البغا دواړه ليکلې ده، بله شرحه يې ( شرح رياض الصالحين ) چې علامه محمد بن صالح العثيمين رحمه الله ليکلې ده او دا يې په ټولو کې ارزښتناکه شرحه ده.

ډېرو علماء د رياض الصالحين تحقيق هم کړى دى لکه امام الباني، شعيب الأرناؤوط او داسې نورو... ډېر کم کورونه به وي چې رياض الصالحين به پکې نه وي، په هر کور کې د رياض الصالحين وجود د دې ډېر ښه دليل دى چې امام نووي رحمه الله ياد کتاب په کامل اخلاص ليکلى دى، دا پرې زمونږ ګمان دى او په نيت باندې حساب کتاب الله پاک خپله کوي.

WWW.LARKHUD.COM

## لومړی فصل: هغه عملونه چې جنت يې ثواب دی:

امید.

د ځینو قراني ايتونو او سورتونو په لوستلو تيزي.

د صبر غوره والی.

يقين او توکل

WWW.LARKHUD.COM

## لومړی فصل

د زړه هغه عملونه چې ثواب يې جنت دی

امید، [ د توحید د کلمې غوره والی او د شرک خطرناکې پايلې ]

١ – ٤١٧ : [وعن عُبادَة بنِ الصامِتِ، رضي اللهُ عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم: [ منْ شَهِدَ أَنْ لا إِلَهَ إِلاّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وأَنّ مُحمّداً عبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وأَنّ عِيسى عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقاها إِلى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وأَنّ الجَنّةَ حَقٌّ وَالنّارَ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللهُ الجَنّةَ عَلى مَا كانَ مِنَ العمَلِ] متفقٌ عَلَيهِ(١).

وفي رواية لمسلم: مَنْ شَهِدَ أَنْ لا إِلَهَ إِلاّ اللهُ، وأَنّ مُحَمّداً رسُولُ اللهِ، حَرّمَ اللهُ علَيهِ النّارَ ] (٢)

ژباړه: له عباده بن صامت رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی، عیسی علیه السلام د الله بنده او استازی دی، او مریم ته يې

---

(١) صحيح البخاري: (٣٤٣٥)، باب قول الله تعالى: (بَابُ قَوْلِهِ: {يَا أَهْلَ الكِتَابِ لاَ تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ)، صحيح مسلم: (٢٨)، باب: (بَابُ مَنْ لَقِي اللهَ بِالْإِيمَانِ وَهُو غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النّارِ) خو د مسلم روايت داسې دی: (مَنْ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنّ مُحَمّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ، وَابْنُ أَمَتِهِ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَأَنّ الْجَنّةَ حَقٌّ، وَأَنّ النّارَ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللهُ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنّةِ الثّمَانِيَةِ شَاءَ).

(٢) صحيح مسلم: (٢٩).

ورغورځولې کلمه او د هغه له اړخ روح دی، جنت هم او دوزخ هم حق دی اول او اخر به يې الله پاک جنت ته بوځي که څه هم نيک عملونه يې کم (لږ) وي.

اود مسلم په روايت کې راځي: که څوک ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دی نو الله پاک به وربانديې اور حرام کړي.

٢ – ٤١٦ : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [أَتَى النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا الْمُوجِبَتَانِ؟ فَقَالَ: مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنّةَ، وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النّار] (١)

ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی او ورته يې وويل چې (د جنت او اور ) دواړو واجبونکي شيان څه شي دي؟ هغه ورته وويل: که څوک ومري او له الله سره يې هيڅ برخه دار نه وي جوړ کړی نو جنت ته به داخل شي، او که څوک ومري او له الله سره يې برخه دار جوړ کړی وي نو اور ته به داخل شي.

---

(١) صحيح مسلم : ( ٩٣ )، باب (بَابُ مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنّةَ، وَمَنْ مَاتَ مُشْرِكًا دَخَلَ النّارَ)



WWW.LARKHUD.COM

٣ – ٤٢١ : وعنْ أَبي هريرة أَوْ أَبي سَعِيدٍ الخُدْرِيّ رضيَ اللهُ عنهما: شَك الرّاوِي، وَلاَ يَضُرُّ الشّكُّ في عَينِ الصّحابي، لأَنهم كُلُّهُمْ عُدُولٌ، قال: [ لما كان يَوْمُ غَزْوَةِ تَبُوكَ، أَصابَ الناسَ مَجَاعَةٌ، فَقالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ أَذِنْتَ لَنا فَنَحَرْنَا نَواضِحَنا، فَأَكلْنَا وَادّهَنّا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم: افْعَلُوا فَجَاءَ عُمَرُ رضي اللهُ عنهُ، فقالَ: يَا رَسولَ اللهِ إِنْ فَعَلْتَ قَلّ الظّهْرُ، وَلَكِنْ ادْعُهُمْ بفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ، ثُمّ ادْعُ اللهِ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالبَرَكَةِ لَعَلّ الله أَنْ يَجْعَلَ في ذلكَ البَرَكَةَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم:"نَعَمْ"فَدَعَا بِنِطْعٍ فَبَسَطهُ، ثُمّ دَعَا بِفَضْلِ أَزَاوِدِهِمْ، فَجعلَ الرّجُلُ يجيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ ويجيءُ الآخَرُ بِكَفِّ تَمْرٍ، ويجيءُ الآخَرُ بِكِسرَةٍ حَتى اجْتَمَعَ عَلى النّطْعِ مِنْ ذَلِكَ شَيْءٌ يَسِيرٌ، فَدَعَا رسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم عليه بِالبَرَكَةِ، ثُمّ قالَ خُذُوا في أَوْعِيَتِكُمْ، فَأَخَذُوا في أَوْعِيَتِهِمْ حَتّى مَا تركوا في العَسْكَرِ وِعاء إِلاّ مَلأوهُ، وأَكَلُوا حَتّى شَبعُوا وَفَضَلَ فَضْلَةٌ، فقالَ رَسُولُ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم:"أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاّ اللهُ، وَأَنّي رَسُولُ اللهِ لاَ يَلْقَى الله بِهِما عَبْدٌ غَيْرُ شاكٍّ، فَيُحْجب عَنِ الجَنّةِ ] (١)

ژباړه: له ابوهريره او ابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه روايت دي چې كله د تبوک د غزا ورځ راغله نو خلكو ته ډيره ولږه ورسيده، صحابه

(١) صحيح مسلم: (٢٧)، باب (مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالْإِيمَانِ وَهُو غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النّارِ)

کرامو وویل: ای د الله رسوله! که راته اجازه راکوې چې د اوبو لپاره خپلې چمتو کړي اوښان مو حلال کړو؟ نو هم به يې وخورو او له وازدو څخه به يې غوړ اوباسو، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ذبحه یې کړئ، نو عمر رضي الله عنه راغی ویویل: ای د الله رسوله! که ته داسې وکړې نو سورلۍ به راسره کمې شي، خو که ورته ووایې چې خپل پاتې خواړه راوړي او له الله څخه ورپکې ته د برکت سوال وکړې، امید دی چې الله پاک ورپکې برکت واچوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: سمه ده، د څرمنې ټادر یې راوغوښت او ورسره توخه کړي خواړه یې هم راوغوښتل، چا یو ورغوی (لپه) جوار، چا کجورې او چا توکړه ډوډۍ راوړه، ترڅو هر څه په ټادر راغونډ کړی شول، بیا ورباندې رسول الله صلی الله علیه وسلم د برکت دعا وکړه، بیا یې وویل: خپل لوښي ورڅخه ډک کړئ، ټولو ورڅخه لوښي ډک کړل، تر دې چې په معسکر کې هیڅ لوښی پاتې نه شو مګر ورڅخه یې ډک کړ، تر هغه یې وخوړل چې ټول ماړه شول او ورڅخه اضافه هم شول، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او زه د الله رسول یم، په دې کلمې سره که هر څوک له الله سره په داسې حالت کې ملاقات وکړي چې هیڅ شک او شبهه پکې نه لري مګر له جنت څخه به یې رابند نه کړي.

WWW.LARKHUD.COM

٤ – ٢٤٩ : وعن أبي هُريرةَ رضي اللهُ عنه، قَالَ [كُنّا قُعوداً مَع رَسُول اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم، مَعَنا أَبُو بكْر وَعُمَرُ، رضي اللهُ عنهما في نَفَرٍ، فَقَامَ رَسُول اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم مِنْ بَيْن أَظْهُرِنَا، فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، فَخَشِينا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعْنا، فَقُمْنَا، فَكُنْتُ أَوّلَ مَنْ فزعَ، فَخرجتُ أَبْتَغِي رسولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم، حَتّى أَتَيتُ حَائِطاً لِلأَنْصارِ وَذَكَرَ الحَدِيثَ بطُوله إِلى قوله: فَقَالَ رَسُول اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم: "اذْهَبْ فَمَنْ لَقِيتَ وَرَاءَ هَذا الحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لا إِلَه إلاّ اللهُ، مُسْتَيقِناً بها قَلْبُهُ فَبَشِّرْهُ بِالجَنّة ] (١)

---

(١) صحيح مسلم: (٣١)، باب : (مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالْإِيمَانِ وَهُو غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ) او د مسلم الفاظ په دې توګه دي: (كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَعَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا، فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، وَفَزِعْنَا، فَقُمْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ، فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا؟ فَلَمْ أَجِدْ، فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ - وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ - فَاحْتَفَزْتُ، فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَبُو هُرَيْرَةَ» فَقُلْتُ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «مَا شَأْنُكَ؟» قُلْتُ: كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا، فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا، فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ، فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ، وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي، فَقَالَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ» وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ، قَالَ: «اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ»، فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ، فَقَالَ: مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ فَقُلْتُ: هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ، فَضَرَبَ عُمَرُ بِيَدِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي، فَقَالَ: ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً، وَرَكِبَنِي عُمَرُ، فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟» قُلْتُ: لَقِيتُ عُمَرَ،

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست ول، له مونږ سره ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د نورو ملګرو په شمول هم ناست وو، رسول الله صلی الله عليه وسلم له مونږ څه وپاځېد ډېر ځنډ وروسته راغی مونږ وډارېدو چې هسې نه دښمن ګير کړی نه وي، نو پسې وپاځېدو، اول همدا زه وډارېدم او په تالاش پسې يې ووتم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وګورم، نو زه د يو انصاري باغ ته ولاړم، - هغه پوره حديث ذکر کړی خو دا هم وړيکې دي – رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمای: ولاړ شه او چې هرڅوک دې له ديوال تر شاه وليدل په دې شرط ورته د جنت زيری ورکړه چې په دې ګواهي ورکوي چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او زړه يې پرې متيقن وي.

٥ – ٩٢٢ : عن معاذٍ رضي الله عنه قالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم: [منْ كَانَ آخِرَ كلامِهِ لاَ إلهَ إلاّ اللهـ دَخَلَ الجنّة] (١)

WWW.LARKHUD.COM

---

فَأَخْبَرْتُهُ بِالّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ، فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي، قَالَ: ارْجِعْ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «يَا عُمَرُ، مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، بِأَبِي أَنْتَ، وَأُمّي، أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ، مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشّرَهُ بِالْجَنّةِ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: فَلَا تَفْعَلْ، فَإِنّي أَخْشَى أَنْ يَتّكِلَ النّاسُ عَلَيْهَا، فَخَلّهِمْ يَعْمَلُونَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «فَخَلّهِم)

(١) سنن أبي داود: (٣١١٦)، (باب في التلقين)، سند يې هم حسن صحيح دی، امام حاکم، ذهبي او ابن حبان په نورو سندونو باندې صحيح روايت کړی دی، صحيح سنن أبي داود: (

ژباړه: له معاذ رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: د چا چې اخره خبره لااله الا الله وي نو جنت ته به ولاړ شي.

د ځينو سورتونو او ايتونو په لوستلو ځانګړې توصيه

٦ – ١٠٢٠: وعنْ أَنسٍ رضي اللهُ عنهُ أَنّ رجُلا قَالَ: [ يَا رَسُول اللّهِ إِني أُحِبُّ هذِهِ السُّورَةَ: {قُلْ هُوَ اللهُ أَحدٌ} ، قَالَ: إِنّ حُبّها أَدْخَلَكَ الجنّة] (١)

---

٢٧٢٩)، لومړی چاپ، مؤسسة غراس للتراث، ١٤٢٣هـ، حاکم په خپل مستدرک، کتاب الجنائز کې په (١٣٠٠) شمېر باندې روايت کړی دی.

(١) سنن الترمذي: (٢٩٠١)، کتاب فضائل القران، باب ماجاء في سورة الاخلاص، بيا امام ترمذي وايي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللّهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيّ، او د ترمذي کامل متن په دې توګه دی: [عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يَؤُمُّهُمْ فِي مَسْجِدِ قُبَاءَ، فَكَانَ كُلّمَا افْتَتَحَ سُورَةً يَقْرَأُ لَهُمْ فِي الصّلَاةِ يَقْرَأُ بِهَا، افْتَتَحَ بِقُلْ هُوَ اللّهُ أَحَدٌ حَتّى يَفْرُغَ مِنْهَا، ثُمّ يَقْرَأُ بِسُورَةٍ أُخْرَى مَعَهَا، وَكَانَ يَصْنَعُ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ. فَكَلّمَهُ أَصْحَابُهُ، فَقَالُوا: إِنّكَ تَقْرَأُ بِهَذِهِ السُورَةِ، ثُمّ لَا تَرَى أَنّهَا تُجْزِيكَ حَتّى تَقْرَأَ بِسُورَةٍ أُخْرَى، فَإِمّا أَنْ تَقْرَأَ بِهَا، وَإِمّا أَنْ تَدَعَهَا وَتَقْرَأَ بِسُورَةٍ أُخْرَى، قَالَ: مَا أَنَا بِتَارِكِهَا، إِنْ أَحْبَبْتُمْ أَنْ أَؤُمّكُمْ بِهَا فَعَلْتُ، وَإِنْ كَرِهْتُمْ تَرَكْتُكُمْ. وَكَانُوا يَرَوْنَهُ أَفْضَلَهُمْ، وَكَرِهُوا أَنْ يَؤُمّهُمْ غَيْرُهُ. فَلَمّا أَتَاهُمُ النّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَخْبَرُوهُ الخَبَرَ. فَقَالَ: «يَا فُلَانُ، مَا يَمْنَعُكَ مِمّا يَأْمُرُ بِهِ أَصْحَابُكَ، وَمَا يَحْمِلُكَ أَنْ تَقْرَأَ هَذِهِ السُّورَةَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ؟ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّهِ إِنّي أُحِبُّهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «إِنّ حُبّهَا أَدْخَلَكَ الجَنّة ] بخاري ياد روايت په خپل صحيح کې په کتاب الأذان (باب الجمع بين السورتين في الركعة) کې معلق ذکر کړی دی، حافظ ابن حجر رحمه الله په هدي الساري کې وايي: ترمذي او بزار له بخاري څخه په روايت چې هغه يې له اسمعيل بن ابي اويس هغه يې له عبدالعزيز دراوردي نه روايت کوي موصول ذکر کړی دی، د ابراهيم بن حمزه الدراوردي په

ژباړه: له انس رضي الله نه نه روايت دی چې يو سړي وويل: ای د الله رسوله! زه له (قل هو الله احد) سره بې پناه مينه لرم، هغه ورته وويل: د دغې سورت مينې ته جنت ته داخل کړی يې.

د صبر، توکل او د يقين غوره والی:

---

روايت ورته حاکم په خپل مستدرک او جوزقي په خپل کتاب ( المتفق ) او ابن خزيمه په خپل صحيح کې حديث ته صحيح ويلي دي، له محمد بن عمرو څخه د ابن ابي شريح په متابعت سره مونږ ته په علو السند رارسيدلي دي چې هغه وايي: دا قول : (عبيدالله بن عمر وايي) ورڅخه ابن حفص بن عاصم مراد دی، حديث يې ترمذي او بزار له بخاري څخه هم موصول ذکر کړی دی، او حديث په خپل اوږدوالي باندې بيهقي هم د مجزر بن سلمه په روايت موصول ذکر کړی دی، او له ثابت څخه د عبيدالله په روايت ورته ترمذي حسن صحيح غريب ويلي دي، بيا وايي: مبارک بن فضاله له ثابت څخه روايت کوي ، او بيا يې د حديث طرف ذکر کړی دی، امام طبراني په (معجم الأوسط ) کې ذکر کوي چې دراوردي پرې له عبيدالله څخه تفرد کړی دی، او په (العلل) کې دارقطني ذکر کوي چې په سند کې يې حماد بن سلمه له عبيدالله سره مخالفت کړی دی او ثابت هغه له حبيب بن سبيعه نه مرسلا روايت کړی دی، او بيا وايي چې دا خبره حقيقت ته نږدې ده، ترجيح يې ورته هم په دې خاطر ورکړې ده چې په ثابت باندې حماد بن سلمه لومړيتوب لري خو عبيدالله بن عمر حافظ او حجت دی، او په سند کې يې ورسره مبارک هم موافقت کړی دی نو احتمال لري چې د ثابت استاذان دې پکې دوه وي، همدا په فتح الباري کې هم دي ( ٢ / ٣٣٤ )، او بيا ابن حجر ياد روايت په (تغليق التعليق على صحيح البخاري : ٢ / ٣١٥ – ٣١٧) کې په څو سندونو باندې موصول ذکر کړی دی، امام الباني رحمه الله وايي: حديث حسن صحيح دی، (صحيح الترمذي: کتاب فضائل ا لقران، باب سورة الاخلاص: ٢٣٢٣).



WWW.LARKHUD.COM

٧ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ، إِذَا قَبَضْتُ صَفِيّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمّ احْتَسَبَهُ، إِلّا الجَنّة ] (١)

ژباړه : له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله پاک وايي: له ماسره زما د هغه بنده نېکه بدله دا ده چې زه يې په دنيا کې محبوب ځوک واخلم (مړکړم) او هغه يې مرګ د ځان لپاره اجر وبولي نو جنت به بدله ورکړم.

٨ – ٣٥ : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ إِنّ اللهَ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنّةَ،يُرِيدُ: عَيْنَيْه] (٢)

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې ما له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې، الله پاک وايي: زه چې مې کله خپل بنده په دواړه سترګو وازموم (وړوند کړم) نو د دواړو په عوض کې به ورته زه جنت ورکړم.

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الرقائق، باب العمل الذي يبتغى به وجه الله تعالى: (٦٤٢٤).

(٢) صحيح البخاري: كتاب المرضى، باب فضل ذهاب البصر: (٥٦٥٣).

٩ – ٣٦ : وعنْ عطاءِ بْن أَبي رَباحٍ قالَ: [ قالَ لِي ابْنُ عبّاسٍ رضي اللّٰهُ عنهُمَا ألاَ أريكَ امْرَأَةً مِن أَهْلِ الجَنّة؟ فَقُلت: بلَى، قَالَ: هذِهِ المْرأَةُ السوْداءُ أَتَتِ النبيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وسَلّم فقالَتْ: إِنّي أُصْرَعُ، وإِنّي أَتكَشّفُ، فَادْعُ الله تَعَالَى لِي قَالَ: إِن شئْتِ صَبَرْتِ ولكِ الْجنّةُ، وإِنْ شِئْتِ دعَوْتُ الله تعالَى أَنْ يُعافِيَكِ فقالتْ: أَصْبرُ، فَقالت: إِنّي أَتَكشّفُ، فَادْعُ الله أَنْ لا أَتكشّفَ، فَدَعَا لَهَا ] (١)

ژباړه:عطاء بن ابي رباح وايي چې ما ته ابن عباس رضي الله عنهما وويل: ايا جنتی ښځه درته نه درښايم؟ ما وويل: ولې نه، هغه راته وويل: دغه توره ښځه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغله ورته يې وويل: پر ما باندې غوټه راځي او له ځان څخه کالي شکوم، له الله څخه راته وغواړه چې صحت راکړي، هغه ورته وويل: که دې خوښه وي نو صبر وکړه او ستا لپاره به جنت وي، او که دې خوښه وي نو له الله څخه به سوال وکړم او تا ته به عافيت درکړي، ښځې وويل: دا چې کالي څيرم ددې لپاره راته دعا له الله څخه وغواړه چې کالي نه څيرم (چې عورت مې ښکاره نه شي) نو بيا يې ورله دعا وغوښته.

(١) صحيح البخاري: كتاب المرضى، باب فضل من يصرح من الريح : ( ٥٦٥٢)، صحيح مسلم: كتاب ا لبر والصلة والآداب، باب ثواب المؤمن فيما يصيبه من مرض أو حزن أو نحو ذلك حتى الشوكة يشاكها : (٢٥٧٦).

١٠ – ٧٥ : عَن ابْن عَبّاسٍ رضي اللهُ عنهما قَالَ: قَالَ رسولُ الله صلى الله عليه وآله وسلم: [عُرضَت عليّ الأمَمُ، فَرَأيْت النّبِيّ وَمعَه الرُّهيْطُ والنّبِيّ ومَعهُ الرّجُل وَالرّجُلانِ، وَالنّبِيّ وليْسَ مَعهُ أحدٌ إِذْ رُفِعَ لِى سوادٌ عظيمٌ فظننتُ أَنّهُمْ أُمّتِي، فَقِيلَ لِى: هَذَا مُوسَى وقومه ولكن انظر إلى الأفق فَإذا سَوادٌ عَظِيمٌ فقيلَ لي انْظُرْ إِلَى الأفُقِ الآخَرِ فَإِذَا سَوَادٌ عَظيمٌ فقيلَ لِي: هَذه أُمّتُكَ، ومعَهُمْ سبْعُونَ أَلْفاً يَدْخُلُونَ الْجَنّة بِغَيْرِ حِسَابٍ ولا عَذَابٍ"ثُمّ نَهَض فَدَخَلَ منْزِلَهُ، فَخَاض النّاسُ في أُولَئِكَ الّذينَ يدْخُلُون الْجنّةَ بِغيْرِ حسابٍ وَلا عذابٍ، فَقَالَ بعْضهُمْ: فَلَعَلّهُمْ الّذينَ صَحِبُوا رسولَ الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم، وقَال بعْضهُم: فَلعَلّهُمْ الّذينَ وُلِدُوا في الإسْلامِ، فَلَمْ يُشْرِكُوا بالله شَيئاً –وذَكَروا أشْياء – فَخرجَ عَلَيْهِمْ رسولُ الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم فَقَالَ:مَا الّذي تَخُوضونَ فِيهِ؟ فَأخْبَرُوهُ فَقَالَ:"هُمْ الّذِينَ لا يرقُونَ، وَلا يَسْتَرْقُونَ، وَلاَ يَتَطيّرُون، وَعَلَى ربِّهمْ يتوكّلُونَ"فقَامَ عُكّاشَةُ بنُ مُحْصِن فَقَالَ: ادْعُ الله أنْ يجْعَلَني مِنْهُمْ، فَقَالَ:أنْت مِنْهُمْ"ثُمّ قَام رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ: ادْعُ الله أنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَقَالَ:سَبَقَكَ بِهَا عُكّاشَةُ] (١)

(١) صحيح البخاري: كتاب الطب، باب من اكتوى او كوى غيره وفضل من لم يكتو: (٥٧٠٤)، صحيح مسلم: كتاب اليمان، باب الدليل على دخول طوائف من المسلمين الجنة بغير حساب ولا عذاب: (٢٢٠)، ياد روايت د مسلم دى، د بخاري په روايت كې د ( وَلاَ يَرْقُوْنَ ) الفاظ نشته او پر ځاى يې د ( لاَ يَكْتَوُوْنَ ) كلمات د مسلم د ځينو روايتونه برخه ده، علامه الباني رحمه الله وايي: د بخاري روايت محفوظ او د مسلم روايت د سند او متن دواړو اړخونو څخه شاذ دى،

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: امتونه راته وښودل شول، ومې ليدل چې له يو نبي سره ډله او ومې ليدل چې له بل نبي سره يو او له بل دوه نفر و، او ومې ليدل چې له يو نبي سره هېڅوک هم نه و، يو لوی لښکر مې وليد چې وامې انګېرل چې ګنې زما امت به وي راته وويل شول چې دا موسی او د هغه قوم دی، خو ته د اسمان کنارې ته وګوره چې مې وکتل نو عظيمه ډله مې وليده، بيا راته وويل شول: د کنارې بل اړخ ته وګوره، چې ومې کتل نو عظيمه ډله مې وليده، راته وويل شول: دا ستا امت دی، په دوی کې اويا زره داسې خلک دي چې جنت ته به له حساب او عذاب پرته ننوځي، بيا وپاڅېد او خپل کور ته ننوت، خلک د هغه چا په خبرو کې ننوتل چې جنت ته به له حساب او عذاب پرته ننوځي، ځينو وويل چې دويه هغه کسان دي چې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره يې

امام الباني دا خبره په رياض الصالحين باندې د خپل تحقيق له مخې په (۷۰) مخ کې کړې ده، او امام عثيمين رحمه الله وايي: د شيخ الاسلام په تاييد کې دې روايت کې خطا ځکه شته چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به پر خلکو دمونه اچول، لکه د بخاري په کتاب ا لطب کې د عائشې رضي الله عنها حديث باب رقية النبي صلى الله عليه وسلم او ياد حديث مسلم هم روايت کړی دی، او د مسلم د بل روايت له مخې چې جبريل عليه السلام هم دم کړی دی، کتاب السلام، باب الطب والمرضى والرقق، په صحيحينو کې شته چې عائشه رضي الله عنها او نورو صحابه کرامو به دمونه اچول. (القول المفيد على كتاب التوحيد: ۱ / ۱۰۲ )، نشراو اشاعت: دار ابن الجوزي، څلورم چاپ: ۱۴۲۱ه) ( فتح المجيد شرح كتاب التوحيد: ٦٦- ٦٧) د عبدالرحمن بن حسن ال الشيخ ليکنه، نشر: دار الکتب العلمية.

ملګرتوب کړی وي، او نورو ځینو وویل: دوی شاید هغه کسان وي چې په اسلام کې زږیدلي وي او له الله سره یې هیڅ راز برخه دار نه وي جوړ کړی، نو په دې جریان کې رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت، ویویل: په څه شي کې دومره ننوتي یاست؟ نو صحابه کرامو ورته خبر ورکړ، نو هغه وویل: دوی هغه خلک دي چې نه دم اچوي او نه دم اچول غواړي، او نه بدپالي کوي او په خپل رب باندې بروسه او توکل لري، عکاشه بن محصن ودریږید ویویل: له الله څخه وغواړه چې ما یې هم له جملې څخه جوړ کړي، هغه ورته وویل: ته یې له جملې څخه یې، بیا بل سړی ودریږید ویویل: زما لپاره هم له الله څخه وغواړه چې ما هم ورڅخه وګرځوي، هغه ورته وویل: عکاشه در څخه مخکې شو.

WWW.LARKHUD.COM

دوهم فصل: د ژبې هغه عملونه چې ثواب یې جنت دی

د صدق فضیلت.

په خیرښېګړو باندې د زیري ورکولو غوره والی.

د سلام کولو غوره والی او په نشرولو یې د نبوي امر.

د ذکر او اذکارو فضیلت او ورباندې تیزي.

باید په زنکدن اخته ته څه وویل شي، او هغه چا ته

دعاګانې چې مړی ورکړه شوی وي.

د دروغو حرمت.

WWW.LARKHUD.COM

د ژبې هغه عملونه چې ثواب يې جنت دی

د رښتيا ويلو بهتري او د دروغو تحريم

١١ – ٥٥ : عَن ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه عن النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم قَالَ: [ إِنّ الصّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنّ الْبِرّ يَهْدِي إِلَى الجَنّةِ، وَإِنّ الرّجُلَ ليصْدُقُ حَتّى يُكتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدّيقاً، وإِنّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفجُورِ وَإِنّ الفجُورَ يَهْدِي إِلَى النّارِ، وَإِنّ الرّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّى يُكتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذّابا] (١)

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: رښتيا ويل کامل خير ته بلنه او دعوت ورکوي، او کامل خير د جنت په لور رهنمايي کوي، او يو څوک د تل لپاره رښتيا وايي نو له الله سره رښتيا ګڼه وليکل شي، او دروغ ويل کامل شر ته دعوت ورکوي او کامل شر د اور په لور رهنمايي کوي، او يو څوک د تل لپاره دورغ وايي نو له الله سره دورغجن وليکل شي.

WWW.LARKHUD.COM

(١) صحيح البخاري: كتاب الأدب، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا اتّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصّادِقِينَ} [التوبة: ١١٩] وَمَا يُنْهَى عَنِ الكَذِب : (٦٠٩٤)، صحيح مسلم: كتاب البر والصلة، بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصّدْقِ وَفَضْلِهِ، (٢٦٠٧).

۱۲ – ۷۱۵ : دا حديث په (٤) شمېر سره تېر شو، امام نووي په (٤۲۹) شمېر باندې تكراراً هم ذكر كړى دى، د حديث تخريج په باب الرجاء كې وګوره.

د سلام كولو بهتري او په نشر اشاعت يې نبوي امر

۱۳ – ۸٥۲ : عن أَبي هريرةَ رضي الله عنه قَالَ: قالَ رَسُول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم [لَا تَدْخُلُونَ الْجَنّةَ حَتّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السّلَامَ بَيْنَكُمْ] (۱)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تر هغه به جنت ته ولاړ نه شئ چې كامل مومنان نه شئ، او كامل مومنان تر هغه نه شئ جوړېدای چې له يو بل سره مو مينه نه وي كړې، ايا تاسو ته داسې څه نه درښايم چې كه عملي بېه وركړئ نو له يو بل سره به مو مينه پېدا شي؟ سلام كول مو ترمنځ خور وور كړئ.

۱٤ – ۸٥۳ : وعن أَبي يوسف عبد الله بن سلام رضي الله عنه قالَ: سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم يقول [يَا أَيُّهَا النّاسُ أَفْشُوا السّلام،

(۱) صحيح مسلم: كتاب اليمان، بَابُ بَيَانِ أَنّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنّةَ إِلّا الْمُؤْمِنُونَ، وَأَنّ مَحَبّةَ الْمُؤْمِنِينَ مِنَ الْإِيمَانِ، وَأَنّ إِفْشَاءَ السّلَامِ سَبَبًا لِحُصُولِهَا: ( ٥٤ ).


WWW.LARKHUD.COM

وَأْطعِمُوا الطْعَامَ، وَصِلُوا الأْرحامَ، وَصَلُّوا والنّاس نيامٌ، تَدْخُلوا الجُنّة بِسَلاَمِ ] (١)

ژباړه: له ابویوسف عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي ویل یې: ای خلکو! سلام کول خور وور کړئ، او خواړه ورکړئ، خپلولي وپالئ او په داسې حالت کې (نفل) لمونځونه وکړئ چې خلک ویده وي، نو جنت ته به له مشقت پرته ولاړ شئ.

د ذکر اذکارو بهتري او ورباندې تیزي

١٥ – ١٤٤٧ : عنْ جابرٍ رضي الله عنهُ، عَنِ النبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم قَالَ: [ سُبْحانَ اللهِ وبحَمدِهِ، غُرِستْ لهُ نَخْلَةٌ في الجَنّةِ ] (١)

---

(١) سنن الترمذي: كتاب صفة القيامة والرقائق والورع: (٢٤٨٥)، سنن ابن ماجه: كتاب اقامة الصلاة والسنة، بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ اللّيْلِ (١٣٣٤)، او د حديث سند صحيح دی، ابن ماجه په كتاب الأطعمة، باب اطعام الطعام په ( ٣٢٥١ ) هم روايت كړی دی، او د ترمذي روايت په دې توګه دی: [لَمّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ المَدِينَةَ انْجَفَلَ النّاسُ إِلَيْهِ، وَقِيلَ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، فَجِئْتُ فِي النّاسِ لِأَنْظُرَ إِلَيْهِ، فَلَمّا اسْتَبَنْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَرَفْتُ أَنّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذّابٍ وَكَانَ أَوّلُ شَيْءٍ تَكَلّمَ بِهِ أَنْ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النّاسُ، أَفْشُوا السّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُونَ الجَنّةَ بِسَلَامٍ ] امام الباني ورته هم په ( صحيح الترمذي : (٢ /٢٣٠٣) كې په ( ٢٠١٩ ) شمېر باندې صحيح ويلي دي، او ياد حديث په سلسلة الأحاديث الصحيحة كې په ( ٢ / ١١٣ ) كې په ( ٥٦٩) شمېر باندې هم شته دی.

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: په سبحان الله وبحمده باندې په جنت كې يوه كجوره نالیږي.

١٦ – ١٤٤٨ : وعن ابن مسْعُودٍ رضي اللهُ عَنْهُ قال: قال رسُول اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم "لَقِيتُ إبراهيمَ صَلّى اللهُ عَلَيهِ وسَلّم لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ: يَا مُحمّدُ أقرِيءْ أُمّتَكَ مِنّي السّلام، وأَخبِرْهُمْ أنّ الجنّةَ طَيّبَةُ التُّربةِ، عذْبَةُ الماءِ، وأنّها قِيعانٌ وأنّ غِرَاسَها: سُبْحانَ اللهِ والحمْدُ للهِ وَلاَ إلهَ إلاّ اللهُ واللهُ أكْبَر] (٢)

(١) سنن الترمذي: كتاب الدعوات، بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التّسْبِيحِ وَالتّكْبِيرِ وَالتّهْلِيلِ وَالتّحْمِيدِ : (٣٤٦٤)، او د ترمذي روايت په دې ډول دی: [مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الجَنّةِ ] قَالَ أَبُو عِيسَى التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ. او ياد حديث ترمذي رحمه الله په خپل سنن كې په (٣٤٦٥ ) باندې روايت كړی دی او بيا وايي: ( هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ ) او امام البانى رحمه الله ورته په صحيح سنن الترمذي: ٣ / ١٦٠) كې په (٢٧٥٧) شمېر باندې صحيح ويلي دي، ياد حديث يې په سلسلة الأحاديث الصحيحة (١ /١٣٤ ) كې په ( ٦٤) شمېر باندې هم روايت كړی دی.

(٢) سنن الترمذي: كتاب الدعوات،باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التّسْبِيحِ وَالتّكْبِيرِ وَالتّهْلِيلِ وَالتّحْمِيدِ : (٣٤٦٢)، له حديث وروسته امام ترمذي وايي: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه په دې سند حديث ( حَسَنٌ غَرِيْبٌ ) دی، په سند كې يې عبدالرحمن بن اسحاق بن عبدالله بن الحارث بن كنانة العامري القرشي دی، امام بخاري يې اړوند وايي: كله چې هم په روايت كې له هغه چا سره اختلاف ولري چې ورڅخه باندې وي نو په حديثونو به يې اعتماد نه شي كولی، كه څه هم له هغو راويانو له جملې څخه دی چې په ځينو مواردو كې يې حديث اخستلی شي، امام آجري

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی: په کومه شپه چې اسمان ته بوتلل شوم نو له ابراهيم عليه السلام سره مې ليدل وشول، راته يې وويل: ای محمده! زما له پلوه دې پر امت سلام ووايه، او خبره يې کړه چې جنت ډېره ښه خاوره او خوږې اوبه لري، او جنت بيابان دی او نيالګي يې سبحان الله والحمدلله، لا اله الا الله ، الله اکبر کلمات دي.

١٧ – ١٤٥١ : وعَنْ أَبي مُوسى رضي الله عنه قَالَ: قالَ لي رسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم: [ أَلا أَدُلُّك عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الجنّةِ؟ فقلت: بلى يا رسولَ الله، قَالَ:لا حَوْلَ وَلاَ قُوّةَ إِلاّ بِاللّهِ] (١)

---

رحمه الله وايي: ابوداود وايي چې قدري دی خو ثقه هم دی، امام نسائي وايي: روايت ورڅخه باک نه لري، ابن خزيمه يې هم اړوند دغه نظريه لري او ابن حبان په ثقاتو کې شمېرلی دی، ابوحاتم وايي: حديثونو يې ( په شواهدو، اعتبار او متابعاتو کې )د ليکلو وړتيا لري خو دليل نيول پرې سم نه دي، ابن عدي وايي: په روايتونو کې يې ځينې داسې دي چې عدالت ماتوي چې متابعت يې هم نه شي کيدلی، او دارقطني ورته ضعيف ويلي دي، پوره ترجمه يې په ( تهذيب التهذيب ) کې وګوره، حديث ته امام الباني په صحيح الترمذي (٣ / ١٦٠) کې په ( ٢٧٥٥ ) باندې حسن ويلي دي.

(١) صحيح البخاري: كتاب الدعوات، بَابُ الدُّعَاءِ إِذَا عَلاَ عَقَبَةً (٦٣٨٤)،بَابُ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ: ٦٦١٠)، د بخاري روايت په دې توګه دی: [كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ، فَجَعَلْنَا لاَ نَصْعَدُ شَرَفًا، وَلاَ نَعْلُو شَرَفًا، وَلاَ نَهْبِطُ فِي وَادٍ إِلَّا رَفَعْنَا أَصْوَاتَنَا بِالتَّكْبِيرِ، قَالَ: فَدَنَا مِنَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِبًا، إِنَّمَا تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا» ثُمَّ قَالَ: «يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ، أَلاَ أُعَلِّمُكَ كَلِمَةً هِيَ مِنْ



WWW.LARHKUD.COM

ژباړه: له ابوموسی  اشعري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل: ایا د جنت په خزانه دې نه خبروم؟ ما وویل: ولې نه ای د الله رسوله! هغه وویل: لا حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاّ بِاللّٰهِ.

١٨ – ٩٢٨: وعن أَبي موسى رضي الله عنه أَنّ رسولَ اللهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وسَلّم قَالَ: [ إِذا ماتَ وَلدُ العبْدِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى لملائِكَتِهِ: قَبضْتُم وَلدَ عَبْدِي؟ فيقولُونَ: نعَم، فيقولُ: قَبَضتُم ثمَرَةَ فُؤَادِهِ؟ فيقولونَ: نَعم. فَيَقُولُ: فَمَاذَا قَالَ عبْدِي؟ فيقُولُونَ: حمِدكَ واسْتَرْجعَ، فيقولُ اللّٰهُ تَعَالَى: ابْنُوا لعبدِي بَيتاً في الجَنّة، وَسَمُّوهُ بيتَ الحمدِ] (١)

---

كُنُوزِ الجَنّةِ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوّةَ إِلّا بِاللّٰه ]. صحيح مسلم: كتاب الذكر والدعاء، بَابُ اسْتِحْبَابِ خَفْضِ الصّوْتِ بِالذِّكْرِ: (٢٧٠٤).

WWW.LARKHUD.COM

(١) سنن الترمذي: كتاب الجنائز، بَابُ فَضْلِ المُصِيبَةِ إِذَا احْتَسَبَ : (١٠٢١)، او امام الباني ورته په صحيح الترمذي (١/٢٩٨) کې په (٨١٤) شمېر باندې صحيح ويلي دي، ياد حديث يې په السلسلة الصحيحة کې په ( ١٤٠٨) شمېر باندې راوړی دی او وايي: له ابن عرزب پرته چې مجهول دی نور راويان يې ثقات دي، ترمذي ورته شايد حسن د دې ګمان له مخې ويلي وي چې د دې روايت متابعت به شوی وي، همدې ته د ثقفي قول هم اشاره کوي هغه وايي: (ضحاک له عبدالرحمن عرزب او له نورو څخه روايت کوي)، له ابو موسی څخه پرې ابوبرده هم متابعت کړی دی لکه له لومړي سند څخه معلومېږي، په هغه کې هم له ابو يحيى حارثي پرته نور ټول راويان ثقات دي او دارقطني ورته ضعيف ويلي دي، د ټولو سندونو له مخې ورته اقلاً حسن ويلی شو.

زه وايم: د کتب سته وو له مؤلفينو پرته په حديث باندې امام ترمذي تفرد کړی دی او په سند کې يې دوه علتونه دي: دابوسنان ضعف او د عبدالرحمن بن عزرب جهالت، لکه چې امام

ژباړه: له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې د بنده مسلمان ځوی مړ شي نو الله پاک ملائکو ته وايي: ايا زما د بنده د ځوی روح مو واخست؟ هغوی وايي: هو، الله وايي: ايا د هغه د زړه ميوه (توکړه) مو واخسته؟ هغوی وايي: هو، الله پاک وايي: زما بنده نو څه وويل: هغوی ورته وايي: ستا حمد يې وويو او انا لله وانا اليه راجعون يې وويل: الله پاک وايي: زما د بنده لپاره په جنت کې کور جوړ کړئ او د (حمد کور) نوم پري کيږدئ.

١٩ – ١٤٥١ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ، إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ، إِلَّا الجَنَّةَ] (١)

ژباړه : له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: الله پاک وايي: له ماسره زما د هغه بنده نېکه بدله دا

---

الباني رحمه الله ويلي دي چې ياد حديث ابن حبان د حماد بن سلمه په روايت له ابو سنان څخه روايت کړی چې ما مي خپل ځوی سنان دفن کړ... نو د حديث مدار په ابوسنان دی او هغه ضعيف دی، ښه خبره چې زړه ته ډاډ ورکوي دا ده چې حديث ضعيف الاسناد دی.

(١) صحيح البخاري: كتاب الرقائق، بَابُ العَمَلِ الَّذِي يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللهِ(٦٤٢٤).

ده چي زه يې په دنيا کې محبوب څوک واخلم (مړکړم) او هغه يې مرګ د ځان لپاره اجر وبولي نو جنت به بدله ورکړم.

د غيبت تحريم او د ژبې ساتل:

٢٠ – ١٥٢٧ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ وَقَاهُ اللهُ شَرّ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ، وَشَرّ مَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ دَخَلَ الجَنّة] (١)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله نه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله پاک چې څوک د ژامو ترمنځ اندام او د خپو ترمنځ اندام له شر څخه وساتي نو جنت ته به داخل شي.

د دروغو تحريم

٢١ – ١٥٥٠ : عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه عن النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلّم قَالَ: [ إِنّ الصّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنّ الْبِرّ يَهْدِي إِلَى الجَنّةِ، وَإِنّ الرّجُلَ ليصْدُقُ حَتّى يُكتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدّيقاً، وإِنّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى

(١) سنن الترمذي: كتاب الزهد،بَابُ مَا جَاءَ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ (٢٤٠٩)، بيا ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دى، او الباني ورته په صحيح سنن الترمذي (٢ / ٢٨٧) کې په (١٩٦٤) شمېر باندې حسن صحيح ويلي دي، او ياد حديث يې په السلسلة الصحيحة په (٢/ ٣٦ ) په (٥١٠) شمېر باندې هم ذکر کړى دى.



WWW.LARHKUD.COM

الفجُورِ وَإِنّ الفجُورَ يَهْدِي إِلَى النّارِ، وَإِنّ الرّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّى يُكتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذّابا] (١)

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: رښتيا ويل کامل خير ته بلنه او دعوت ورکوي، او کامل خير د جنت په لور رهنمايي کوي، او يو ځوک د تل لپاره رښتيا وايي نو له الله سره رښتيا ګوه وليکل شي، او دروغ ويل کامل شر ته دعوت ورکوي او کامل شر د اور په لور رهنمايي کوي، او يو ځوک د تل لپاره دورغ وايي نو له الله سره دورغجن وليکل شي.

(١) د ياد حديث تخريج او کره معلومات وړاندې په (١١) شمېر باندې تېر شول.

دريم فصل: د جوارحو هغه اندامونه چې ثواب يې جنت دى:

د اودس غوروالى.

٢٢ – ١٠٣٩ : وعنْ عُمَر بْنِ الخَطّابِ رضي اللهُ عَنْهُ عنِ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وسَلّم قَالَ: [ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحدٍ يتوضّأ فَيُبْلِغُ أَو فَيُسْبِغُ الوُضُوءَ ثُمّ يقولَ: أَشْهدُ أَنْ لا إله إلاّ اللهُ وحْدَه لا شَرِيكَ له، وأَشْهدُ أَنّ مُحمّدًا عبْدُهُ وَرسُولُه، إلاّ فُتِحَت لَهُ أَبْوابُ الجنّةِ الثّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيّها شَاءَ ] (١)

او ترمذي په دې زيادت سره روايت کړى دى [اللّهُمّ اجْعَلْنِي مِنَ التّوّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ المُتَطَهّرِين] (٢)

---

(١) صحيح مسلم: كتاب الطهارة، بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ: (٢٣٤)، دا حديث د اوږد حديث يوه برخه ده چې امام مسلم روايت کړى دى، دحديث پوره نص په دې ډول دى: [عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: كَانَتْ عَلَيْنَا رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَجَاءَتْ نَوْبَتِي فَرَوَّحْتُهَا بِعَشِيٍّ فَأَدْرَكْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُحَدِّثُ النَّاسَ فَأَدْرَكْتُ مِنْ قَوْلِهِ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قَالَ فَقُلْتُ: مَا أَجْوَدَ هَذِهِ فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُولُ: الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ قَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا، قَالَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ]

(٢) ترمذي دا حديث په ابواب الطهاره کې اودس نه وروسته دعاګانو کې په ( ٥٥) شمېر سره روايت کړى دى، له حديث وروسته امام ترمذي وايي: په دې باب کې له انس او عقبه بن عامر رضي الله عنهما حديثونه هم شته، بيا وايي: د عمر رضي الله عنه په حديث کې له زيد بن حبان سره مخالفت شوى دى.

خو زمونږ استاذ حسن بن محمد حيدر وايي: د انس رضي الله حديث چې ابن ماجه په خپل سنن (١٥٩/١) کې روايت کړى دى او احمد په خپل مسند کې په ( ٣/ ٣٦٥) کې، ابن ابي شيبه په

ژباړه: له عمر بن خطاب رضي الله نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې داسې څوک نشته چې پوره اودس وکړي او بيا ووايي: زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او هغه برخه دار نه لري، او زه ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، مګر دا چې د جنت اته واړه دروازې به ورته بېرته شي، چې له کومې يې خوښه شي ورڅخه به جنت ته ننوځي.

---

خپل مصنف ( ١ / ١٤ )، ابن السني په اليوم والليلة کې په( ٢٢)، طبراني په دعواتو کې په ( ٢ / ٩٧٤)کې د عمرو بن عبدالله بن وهب چې هغه يې له زيد العمري او هغه يې له انس رضي الله عنه او هغه يې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې ( مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمّ قَالَ ثَلَاثَ مَرّاتٍ : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَأَنّ مُحَمّدًا رَسُولُ اللهِ فُتِحَتْ لَهُ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابِ الْجَنّةِ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهِمَا شَاءَ) دا چې زيد عمري متروک دی نو ابن حجر رحمه الله پرې په نتائج الأفکار کې د غرابت حکم کړی دی، کولی شئ چې د علامه حسن حيدر کتاب (نزهة الألباب: ١ /١٨٤ ) شمېر (١٤٤) کې د ترمذي د قول ( وَفِيْ البَابِ...) په تشريح کې مزيد تفصيل وګورئ، بيا ترمذي وايي: د دې حديث په سند کې اضطراب دی او په دې باب کې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه ډېر څه ثبوت نه لري، محمد وايي: ابوادريس له عمر څخه سماع هم نه ده شوې.

زه وايم: د دې حديث په شرح اوتفصيل کې شيخ احمد شاکر کافي او شافي بيان کړی دی، هغه وايي: تنبيه: کوم روايتونه چې مونږ ذکر کړل په هغې کې د ترمذي له روايت پرته د ( اللَّهُمَّ اجعلني من التوابين واجعلنی من المتطهرين ) کلمات نشته، او د شته اضطراب اوخطا له کبله د ثبوت لپاره د ترمذي روايت بسنه نه کوي، نو جوته شوه چې له ياد زيات پرته مسلم هم روايت کړی دی او په شته زيادت باندې ترمذي تفرد کړی او سند يې له اضطراب څخه ډک دی.

او ترمذي په دې زيادت سره روايت کړی دی : ای الله! ما له توبه ويستونکو او پاکو خلکو له جملې څخه وګرځوه.

د سهار او مازديګر د لمونځونو غوره والی:

٢٣ – ١٠٥٤: عن أَبِي موسى الأشعرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وسَلّم: [منْ صلّى الْبَرْديْنِ دَخَلَ الْجنّةَ] (١)

ژباړه : له ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: كه څوک د دوو يخو هواګانو ( سهار او مازديګر ) لمونځونه وکړي نو جنت ته به ننوځي.

مسجدونو ته د تللو ثواب

٢٤ – ١٠٥٥ : وعن أَبي زهير عُمارة بن رُؤَيْبَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ: [ لَنْ يَلِجَ النّارَ أَحَدٌ صَلّى قَبْلَ طُلُوعِ الشّمْسِ، وَقَبْلَ غُرُوبِهَا» - يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ] (٢)

---

(١) صحيح البخاري: كتاب مواقيت الصلاة، بَابُ فَضْلِ صَلاَةِ الفَجْرِ (٥٧٤)، صحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فَضْلُ صَلاَتَي الصُّبْحِ وَالعَصْرِ وَالمُحَافَظَةُ عَلَيْهَا (٦٣٥).

(٢) صحيح مسلم: كتاب المساجد ومواضع الصلاة، بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا (٦٣٤)، او حديث په پوره توګه داسې دی: [فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ: آنْتَ سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ الرّجُلُ: وَأَنَا أَشْهَدُ أَنّي سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ، وَوَعَاهُ قَلْبِي ]


WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: له ابوزهير عمارة بن رؤيبه رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: هغه څوک به اور ته ولاړ نه شي چې د لمر ختتو او پرېوتو نه مخکې لمونځونه کوي، يعنې د سهار او مازديګر.

٢٥ – ١٠٦٠ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَنْ غَدَا إِلَى المَسْجِدِ وَرَاحَ، أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ ] (١)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: که څوم مسجد ته ولاړ او راشي نو الله به ورله په جنت کې ميلمستوب تيار کړي چې کله دا مسجد ته ځي راځي.

د فرض لمونځونو سره د سنت لمونځ کول، د لرو، د پوره او ترمنځ اړوند يې پوره بيان.

٢٦ – ١١٠٤ : عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: [ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ

(١) صحيح البخاري: كتاب الأذان، بابُ فَضْلِ مَنْ غَدَا إِلَى المَسْجِدِ وَمَنْ رَاحَ (٦٦٢)، صحيح مسلم: كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب من غدا إلى المسجد أو راح (٦٦٩).

WWW.LARKHUD.COM

يُصَلِّي لِلَّهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا، غَيْرَ فَرِيضَةٍ، إِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ ] (١)

ژباړه: د ام حبيبې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له بي بي ښخه روايت دی هغه وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم ښخه اوريدلي دي ويل يې: داسې هيڅ مسلمان نشته چې د الله د رضا په خاطر د ورځې دولس ركعته نفل لمونځ وكړي او فرض نه وي مګر دا چې الله به ورله په جنت كې كور جوړ كړي، او يا په جنت كې به ورله كور جوړ كړی شي.

د قيام الليل فضيلت.

٢٧ – ١١٧٤ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلاَمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَال: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِسَلَامٍ] (٢)

---

(١) صحيح مسلم: كتاب صلاة المسافرين وقصرها، بَابُ فَضْلِ السُّنَنِ الرَّاتِبَةِ قَبْلَ الْفَرَائِضِ وَبَعْدَهُنَّ، وَبَيَانِ عَدَدِهِنَّ (٧٢٨).

(٢) سنن الترمذي: كتاب صفة القيامة والرقائق والورع (٤٢٨٥)، او روايت په پوره توګه داسې : [لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المَدِينَةَ انْجَفَلَ النَّاسُ إِلَيْهِ، وَقِيلَ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجِئْتُ فِي النَّاسِ لِأَنْظُرَ إِلَيْهِ، فَلَمَّا اسْتَبَنْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ وَكَانَ أَوَّلُ شَيْءٍ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِسَلَام ] ابوعيسى ترمذي وايي: دا حديث

ژباړه: له عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: ای خلکو! سلام کول خور وور کړئ، او خواره ورکړئ، خپلولي وپالئ او په داسې حالت کې (نفل) لمونځونه وکړئ چې خلک ويده وي، نو جنت ته به له مشقت پرته ولاړ شئ.

د جهاد فضيلت.

٢٨ – ٩٠ : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا؟ قَالَ: «فِي الجَنَّةِ فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ ] (١)

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو سړي د احد د غزا په ورځ وويل: څه فکر لرې که زه ووژل شم نو چرته به يم؟ هغه وويل: په جنت کې به يې، نو په لاس کې ورسره يو څو کجورې يې وغورځولې او بيا يې تر هغه جنګ جهاد وکړ چې ووژل شو.

---

صحيح دی، تحقيق كمال يوسف الحوت، دار الكتب العلمية، او ابن ماجه مذكور روايت په كتاب الصلاة باب ما جاء في قيام الليل (١٣٣٤) شمېر باندې روايت کړی دی، تحقيق: بشار عواد معروف، وګوره: تحفة الاشراف (٤ / ٣٥٤)، شمېر (٥٣١٣)، سلسلة الأحاديث الصحيحة: (٥٦٩)، او الباني هم ورته په صحيح ابن ماجه کې په (١٣٥١) او ( ٣٣١٣) شمېر سره صحيح ويلي دي، صحيح الترمذي: (٢٠١٩).

(١) صحيح البخاري: (٤٠٤٦)، صحيح مسلم: (١٨٩٩).

٢٩ – ١٣٠٩ : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ يَا أَبَا سَعِيدٍ، مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنّةُ، فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيّ يَا رَسُولَ اللهِ، فَفَعَلَ، ثُمّ قَالَ: وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السّمَاءِ وَالْأَرْضِ، قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ ] (١)

ژباړه: له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ای ابوسعيده! که څوک په دې خوشحاله شي چې الله يې رب، اسلام يې دين او محمد صلی الله عليه وسلم يې نبي دی نو جنت به ورله واجب شي، نو ابوسعيد رضي الله عنه دې خبرې ته حيرانتيا واخست، ورته يې وويل: دوباره يې راته ووايه ای د الله رسوله! هغه ورته بيا تکرار کړل او ورته يې وويل: يو بل خوی دی چې انسان ورباندې په جنت کې سل درجې پورته کېدلی شي، چې د هرو دوو درجو ترمنځ د ځمکې او اسمان په څېر فاصله ده، هغه ورته وويل: د الله رسوله کوم خوی دی؟ هغه ورته وويل: د الله په لاره کې جهاد کول، د الله په لاره کې جهاد کول.

(١) صحيح مسلم: كتاب الامارة، بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدّهُ اللهُ تَعَالَى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنّةِ مِنَ الدّرَجَاتِ (١٨٨٤).

٣٠ – ١٣١٠ : عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، وَهُوَ بِحَضْرَةِ الْعَدُوِّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ»، فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ، فَقَالَ: يَا أَبَا مُوسَى، آنْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ، ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ، ثُمَّ مَشَى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتَّى قُتِلَ ] (١)

ژباړه: ابوبکر له خپل پلار عبدالله بن قیس او دا يې له خپل پلار قيس نه روايت کوي چې دوى له دښمن سره د مقابلې په مهال و ويويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: جنت د تورو د سيورې لاندې دى، د زړو او خيرلو کاليو والا يو سړى ودرېد ويويل: اى ابوموسى! ايا دا تا له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي؟ هغه وويل: هو، سړى خپلو ملګرو ته ستون شو او ويويل: پر تاسو دې سلام وي( د الله په امان )، بيا يې د خپلې تورې تيکه ماته کړه او له خپلې تورې سره دښمن ته ورغى، په توره يې دومره وهل وکړل چې خپله هم ووژل شو.

---

(١) صحيح مسلم: كتاب الامارة، بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ (١٩٠٢).

٣١ - : ١٣١٩ : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، وَلَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ، يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الكَرَامَةِ ] (١)

وَفِي رِوَايَةٍ : [لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ ] (٢)

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: هيڅ څوک داسې نشته چې جنت ته ننوځي او بيرته دې دنيا ته راستنېدل پسند وبولي او ټوله دنيا دې هم د هغه شي بغير له شهيد نه، هغه دا ارزو لري چې دنيا ته راستون شي او لس ځله ووژل شي، په دې خاطر چې هغه د شهادت قدر او احترام ليدلى وي.

په بل روايت كې بيا داسې دي: ځكه چې هغه د شهادت فضيلت او قدر ليدلى وي.

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الجهاد والسير،بَابُ تَمَنِّي المُجَاهِدِ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا (٢٨١٧)، صحيح مسلم: كتاب الامارة، بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى (١٨٧٧).

(٢) دا د بخاري د حديث توكړه ده او كامل حديث په دې توګه دى: [مَا مِنْ عَبْدٍ يَمُوتُ، لَهُ عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ، يَسُرُّهُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، وَأَنَّ لَهُ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، إِلَّا الشَّهِيدَ لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ، فَإِنَّهُ يَسُرُّهُ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، فَيُقْتَلَ مَرَّةً أُخْرَى ] كتاب الجهاد والسير،بَابُ الحُورِ العِينِ، وَصِفَتِهِنَّ يُحَارُ فِيهَا الطَّرْفُ، شَدِيدَةُ سَوَادِ العَيْنِ، شَدِيدَةُ بَيَاضِ العَيْنِ: (٢٧٩٥)، صحيح مسلم: كتاب الامارة، بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى (١٨٧٧).

٣٢ - : ١٣٢٧ : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أُمَّ الرُّبَيِّعِ بِنْتَ البَرَاءِ وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: [ يَا نَبِيَّ اللَّهِ، أَلاَ تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ، وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ، فَإِنْ كَانَ فِي الجَنَّةِ صَبَرْتُ، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ، اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي البُكَاءِ، قَالَ: يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الجَنَّةِ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الفِرْدَوْسَ الأَعْلَى ] (١)

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې ام الربيع بنت البراء د حارثه بن سراقه مور نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغله او ويويل: ای د الله نبي! ايا د حارثه په هکله به راته معلومات رانه کړې؟ او هغه د بدر په ورځ په نامعلومه غشي لګيدلی و، که په جنت کې وي نو صبر به وکړم او که په جنت کې نه وي نو چې سمه ډيره پرې وژاړم، هغه ورته وويل: ای ام حارثه! جنت نه بلکې جنتونه دي جنتونه، او ستا ځوی د فردوس جنت په پورته برخه کې دی.

٣٣ – ١٣٤٣ : عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ، صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ، وَالرَّامِيَ بِهِ، وَمُنْبِلَهُ. وَارْمُوا، وَارْكَبُوا،

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الجهاد والسير، بَابُ مَنْ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ (٢٨٠٩).

وَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا. وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ، فَإِنَّهَا نِعْمَةٌ تَرَكَهَا »، أَوْ قَالَ» كَفَرَهَا] (١)

ژباړه: له عقبه بن عامر رضي الله نه روايت دى چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: الله پاک په يو غشي باندې درې نفر جنت ته ننباسي، دغشي جوړونکی چې په جوړولو يې له الله څخه خير غواړي، ويشتونکی او غشي ورکونکی، تاسو غشي ووروئ او په اسونو سپاره شئ، که تاسو غشي ووروئ نو په اسونو له سپريدو راته ډېر ښه دي، که چا ته غشي ورول زده وي او دبې رغبتی له کبله يې پريږدي نو ډېر ښه نعمت يې پرېښود او يا يې وويل: د ښه نعمت قدرداني يې ونه کړه.

٣٤ – ٥٤ : عَنْ أَبِيْ اِبْرَاهِيم عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى [أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ، يَنْتَظِرُ حَتَّى إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيهِمْ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَاسْأَلُوا

---

(١) سنن أبي داود: كتاب الجهاد، باب فضل الرمي، ٢٥١٣)، حديث په پوره توګه داسې دى [عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ، صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ، وَالرَّامِيَ بِهِ، وَمُنْبِلَهُ. وَارْمُوا، وَارْكَبُوا، وَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا. لَيْسَ مِنَ اللَّهْوِ إِلَّا ثَلَاثٌ: تَأْدِيبُ الرَّجُلِ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتُهُ أَهْلَهُ، وَرَمْيُهُ بِقَوْسِهِ وَنَبْلِهِ، وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ، فَإِنَّهَا نِعْمَةٌ تَرَكَهَا »، أَوْ قَالَ» كَفَرَهَا] الباني رحمه الله وايي: د خالد بن يزيد د جهالت له کبله يې سند کمزورى دى، دا چې اضطراب يې په نوم کې واقع دى نو ځکه خو حافظ عراقي هم معلول ګڼلى دى، وګوره: ضعيف سنن أبي داود: (١٠ / ٣٠٤ ) ( ٤٣٣) شمېر.

WWW.LARKHUD.COM

اللّهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ ثُمَّ قَامَ النّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَقَالَ اللهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ،وَمُجْرِيَ السّحَابِ، وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ، وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ] (١)

ژباړه: له عبدالله بن أوفى رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ځينو هغو ورځو کې چې له دښمن سره پېکې مخامخ شو تر دې صبر وکړ چې لمر واوخت بيا په صحابه کرامو کې پورته شو او ويويل: اى خلکو! له دښمن سره د مقابلې ارزوګاني مه کوئ او له الله څخه د عافيت سوال کوئ، خو که له دښمن سره مخ شوئ نو له صبر څخه بيا کار واخلئ، او پوهه شئ چې جنت د تورو د سيورو لاندې دى، بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم پورته شو او ويويل: اى الله! د کتاب نازلونکى، د وريځو روانونکى، د کافرانو ډلو تېتلو ماتونکى، دا کافران مات کړه او پر هغوى باندې له مونږ سره مرسته وکړه.

د ډېرو سجدو فضيلت.

١٠٨ : وَعَنْ أَبِيْ فِرَاسٍ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيُّ، قَالَ: [كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِي: سَلْ

(١) صحيح البخاري: كتاب الجهاد والسير، بَابٌ: كَانَ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ أَوّلَ النّهَارِ أَخّرَ القِتَالَ حَتّى تَزُولَ الشّمْسُ : ( ٢٩٦٥ -٢٩٦٦)، صحيح مسلم: كتاب الجهاد والسير: (١٧٤٢).

فَقُلْتُ: أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ. قَالَ: أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ. قَالَ: «فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ ] (١)

ژباړه: ربيعة بن كعب اسلمي رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شپه سبا كړه او هغه ته مې د اودس لپاره اوبه راوړې، راته يې وويل: څه رانه وغواړه، ما وويل: په جنت كې له تاسره ملګرتوب غواړم، هغه وويل: نور څه خو نه غواړې؟ ما وويل: همدغه غواړم، هغه راته وويل: ما سره په ملګرتوب كې دې په ډېرو سجدو ( لمونځونو ) له ځان سره مرسته وكړه.

د الله له ويرې د ژړا فضيلت.

٣٥ – ٤٥٣ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ، وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ] (٢)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: هغه سړى به اور ته ونه ننوځي چې د الله له ويرې

---

(١) صحيح مسلم: كتاب الصلاة، بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ (٤٨٩).

(٢) سنن الترمذي: كتاب الزهد، بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ (٢٣١١)، او الباني هم ورته په صحيح الترمذي كې (٢ / ٢٦٧ ) په (١٨٨) صحيح ويلي دي.

يې ژړلي وي، تر څو شېدې په بېرته غلانځې ته ستنې شوي نه وي، او د الله په لاره کې ګرد غبار او د دوزخ لوګي نه يو ځای کېږي.

د غريب غربه او ناداره خلکو فضيلت او بهتري.

٣٦ - ٢٥٧ : عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الخُزَاعِيّ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرّهُ، أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النّارِ: كُلُّ عُتُلٍّ، جَوّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ ] (١)

ژباړه: حارثه بن وهب خزاعي رضي الله عنه وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ويل يې: ايا په جنتيانو مو نه خبروم؟ هر کمزوری چې د خلکو په سترګو کې حقير وي، او داسې وي که په الله پاک باندې لوړه پورته کړي نو غاړه به يې ازاده کړه ( غوښتل به يې شته شي ) ايا په دوزخيانو مو نه خبروم: په باطله توګه جنګيری، شديد بخيل او له حق څخه متکبر.

---

(١) صحيح البخاري: كتاب التفسير، بَابُ [عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ] (٤٩١٨)، او كتاب الأدب، باب الكبر (٦٠٧١)، كتاب الايمان والنذور، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَأَقْسَمُوا بِاللهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ} (٦٦٥٧)، صحيح مسلم: (٢٨٥٣)، او د مسلم روايت په دې توګه دی (كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرّهُ» ثُمّ قَالَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النّارِ؟» قَالُوا: بَلَى، قَالَ: «كُلُّ عُتُلٍّ جَوّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ )

٣٧ – ٢٦٧ : عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [وَأَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الجَنّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبّابَةِ وَالوُسْطَى، وَفَرّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا] (١)

ژباړه: له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې داسې يو،او په سبابه او منځنۍ ګوتې يې اشاره وکړه، او دواړه يې سره لږ جلا کړې.

٣٨ – ٢٦٨ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنّةِ» وَأَشَارَ مَالِكٌ بِالسَّبّابَةِ وَالْوُسْطَى ] (٢)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: د يتيم يا د بل چا پالونکی زه او هغه به سره په جنت کې داسې يو، او مالک په سبابه او منځنۍ ګوتې سره اشاره وکړه.

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الأدب،بَابُ فَضْلِ مَنْ يَعُولُ يَتِيمًا (٦٠٠٥).

(٢) صحيح مسلم: كتاب الزهد والرقائق، بَابُ الْإِحْسَانِ إِلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ وَالْيَتِيمِ (٢٩٨٣).

٣٩ – ٢٧٤ : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ: [ جَاءَتْنِي مِسْكِينَةٌ تَحْمِلُ ابْنَتَيْنِ لَهَا، فَأَطْعَمْتُهَا ثَلَاثَ تَمَرَاتٍ، فَأَعْطَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَمْرَةً، وَرَفَعَتْ إِلَى فِيهَا تَمْرَةً لِتَأْكُلَهَا، فَاسْتَطْعَمَتْهَا ابْنَتَاهَا، فَشَقَّتِ التَّمْرَةَ، الَّتِي كَانَتْ تُرِيدُ أَنْ تَأْكُلَهَا بَيْنَهُمَا، فَأَعْجَبَنِي شَأْنُهَا، فَذَكَرْتُ الَّذِي صَنَعَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ، أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ] (١)

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې غريبه ښځه ورته راغله او دوه بچيان يې ورسره و، ما ورله درې کجورې ورکړې نو مور يې هر يو ته يوه يوه کجوره ورکړه، او بله کجوره يې خولې ته پورته کړه چې ويې خوري نو دواړو بچو ترې وغوښته، نو هغه کجوره يې په منځ دوه کړه چې خپله يې خوړله او دواړو ته يې ورکړه، ما يې له حالت څخه تعجب وکړ، نو دغه قيصکۍ ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وکړه هغه وويل: الله پاک ورله جنت واجب کړی دی، يا يې وويل: په همدغه کار باندې الله پاک له اور څخه ازاده کړه.

په ښځې باندې د خاوند حقونه:

(١) صحيح مسلم: كتاب البر والصلة والأدب، بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ (٢٦٣٠ ).



WWW.LARKHUD.COM

٤٠ – ٢٩٢ : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الجَنّةَ] (١)

ژباړه: له ام سلمې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کومه ښځه چې په داسې حالت کې مړه شي چې خاوند يې ورځخه خوشحاله وي نو جنت ته به ننوځي.

په نبوي سنتونو باندې د پابندی امر:

٤١ – ١٦٢ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ كُلُّ أُمّتِي يَدْخُلُونَ الجَنّةَ إِلّا مَنْ أَبَى»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الجَنّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى] (٢)

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: زما هر امتي به جنت ته ولاړ شي خو هغه څوک چې

(١) سنن الترمذي: كتاب الرضاع، بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ الزّوْجِ عَلَى المَرْأَةِ (١١٦١)، سنن ابن ماجه: كتاب النكاح باب حق الزوج على المرأة (١٨٥٤)، خو د مساور الحميري او مور له کبله يې سند ضعيف دی، مذکور حديث په تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف په ( ١٨٢٩٤) شمېر باندې وګوره، الباني رحمه الله ورته په ضعيف الترمذي کې په (٢٠٠) او (١١٧٧) شمېر باندې ضعيف ويلی دی، او په ضعيف ابن ماجه کې يې ورته په (٤٠٧) شمېر باندې ضعيف ويلي دي، او په سلسلة الأحاديث الضعيفه کې يې ورته منکر ويلي دي (١٤٢٦).

(٢) صحيح البخاري: كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، بَابُ الِاقْتِدَاءِ بِسُنَنِ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ (٧٢٨٠).



WWW.LARKHUD.COM

انکار ورځخه کوي، صحابه کرامو وویل: څوک له جنت څخه انکار کوي؟ هغه وویل: که څوک مې خبره ومني جنت ته به ننوځي، او که څوک مې خبره ونه مني نو جنت ته یې له ننوتو څخه انکار وکړ.

د خیر ښېګړې د بېلابېلو لارې، له مور او پلار او خپلو خپلوان پالل:

٤٢ – ٣٢٢ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ»، قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ ] (١)

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: پوزه یې دې خاورې شي، بیا یې دې پوزه خاورې شي، بیا یې دې پوزه خاورې شي، ورته وویل شول: د چا پوزه دې خاورې شي؟ هغه وویل: د هغه چا چې مور او پلار دواړه په بوډا والي کې راګیر کړي یا په دواړو کې یو راګیر کړي او په سبب یې جنت ته ونه ننوځي.

٤٣ – ٣٣٩ : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ: [ إِنَّ لِيَ امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا، قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى

(١) صحيح مسلم: كتاب البر والصلة والأدب، بَابُ رَغِمَ أَنْفُ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدَهُمَا عِنْدَ الْكِبَرِ، فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ (٢٥٥١).

WWW.LARKHUD.COM

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الجَنَّةِ، فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذَلِكَ البَابَ أَوْ احْفَظْهُ ] (١)

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دى چې يو سړى ورته راغى ويويل: زما ښځه ده او مور مې راته وايي چې طلاقه يې کړه، ابودرداء رضي الله عنه ورته وويل: ما له رسوله الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلى دي ويل يې: پلار د جنت منځنۍ دروازه ده، که دې خوښه وي ضايع يې کړه او که دې خوښه وي خيال پرې وکړه.

له ديندارو خلکو سره ليدل کتل، له هغوى سره مجلسونه کول او د ملاقات لپاره ورځخه وخت اخستل او نور ګټور ځايونه:

٤٤ – ٣٦٦ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ مَنْ عَادَ مَرِيضًا أَوْ زَارَ أَخًا لَهُ فِي اللَّهِ نَادَاهُ مُنَادٍ أَنْ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الجَنَّةِ مَنْزِلًا ] (٢)

---

(١) سنن الترمذي: كتاب البر والصلة، بَابُ مَا جَاءَ مِنَ الفَضْلِ فِي رِضَا الوَالِدَيْنِ (١٩٠٠)، ترمذي بيا وايي: دا حديث صحيح دى، او الباني هم ورته په صحيح الترمذي کې په (١٥٤٨) شمېر باندې صحيح ويلي دي.

(٢) سنن الترمذي، كتاب البر والصلة، بَابُ مَا جَاءَ فِي زِيَارَةِ الإِخْوَانِ (٢٠٠٨)، سنن ابن ماجه: الجنائز،بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ مَنْ عَادَ مَرِيضًا (١٤٤٣)، او د ابن ماجه الفاظ په دې توګه دي (مَنْ عَادَ مَرِيضًا، نَادَى مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: طِبْتَ، وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا) خو سند يې د سنان القسلمي له کبله چې خپل نوم يې عيسى بن سنان دى ضعيف دى، ابن معين ورته

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: که څوک د ناجوړه پوښتنه وکړي او د الله په خاطر د خپل مسلمان ورور ملاقات وکړي نو يو اواز کونکی ورته اواز وکړي چې ښه کار دې وکړ او تګ راتګ دې د ښه ژوند سبب شو، او په دې سره دې د ځان لپاره په جنت کې ځای تيار کړ.

د خپل لاس ګټې وتې خوړلو فضيلت او له سوال کولو څخه ډډه کول:

٤٥ – ٥٥٦ : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ أَرْبَعُونَ خَصْلَةً أَعْلاَهُنَّ مَنِيحَةُ العَنْزِ، مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا، وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا، إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الجَنَّةَ ] (١)

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څلوېښت (جنتي) صفتونه دي، د ډېر

---

ضعيف الحديث ويلي دي، اثرم وايي: ما له احمد بن حنبل څخه د عيسى بن سنان اړوند وپوښتل هغه وويل: ضعيف دی، ابوزرعه وايي: مختلط او ضعيف الحديث هم دی، ابوحاتم وايي: په حديثونو کې قوی نه دی، عجلي وايي: روايت ورڅخه باک نه کوي، او نسائي هم ورته ضعيف ويلي دي، ابن خراش وايي: صدوق دی، خو په حديثونو کې يې نکارت دی، او ابن حبان په ثقاتو کې ذکر کړی دی، وګوره تهذيب التهذيب: (٦ / ٣٣٠)، او مذکور حديث ته الباني په صحيح سنن الترمذي کې په (١٦٣٣) شمېر باندې حسن ويلي دي.

(١) صحيح البخاري: كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها،بَابُ فَضْلِ المَنِيحَةِ (٢٦٣١).

ثواب والا خصلت يې د شېدو والا بزه چا ته ورکول دي، که هر څوک يې په يو خصلت هم د ثواب په نيت عمل وکړي او شته اجر باندې تصديق ولري مګر الله به يې خامخا جنت ته ننباسي.

انصافداره سرپرست:

٤٦ – ٦٦٧ : وعن عِياضِ بن حِمارٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم يقول: «أَهلُ الجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ: ذُو سُلطانٍ مُقْسِطٌ مُوَفَّقٌ، وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ القَلْبِ لِكُلِّ ذي قُرْبَى ومُسْلِمٍ، وعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذو عِيالٍ] (١)

(١) صحيح مسلم: كتاب الجنة، بَابُ الصِّفَاتِ الَّتِي يُعْرَفُ بِهَا فِي الدُّنْيَا أَهْلُ الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ (٢٨٦٥)، او روايت په پوره ډول داسې دى: [أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ: " أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ، مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هَذَا، كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ، وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا، وَإِنَّ اللهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ، فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ، إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، وَقَالَ: إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ، وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ، تَقْرَؤُهُ نَائِمًا وَيَقْظَانَ، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا، فَقُلْتُ: رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً، قَالَ: اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا اسْتَخْرَجُوكَ، وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ، وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ، وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ، وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ، قَالَ: وَأَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ، وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ، وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ، قَالَ: وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ: الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ، الَّذِينَ هُمْ فِيكُمْ تَبَعًا لَا يَبْتَغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا، وَالْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ، وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ، وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ «وَذَكَرَ» الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ وَالشِّنْظِيرُ الْفَحَّاشُ]

WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: له عياض به حمار رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ويل يې: جنتيان درې ډوله دي: انصافدار باچا چې د خير كارونو ته توفيق وركړل شوی وي، او پر هر مسلمان او خپلوان باندې مهربان نرم زړی سړی، او د ډېرو بچو پلار چې غريب وي او له چا نه سوال نه كوي.

بيمارپرسي او له جنازې سره تلل، پر هغه د جنازې لمونځ كول او دفن ته يې حاضرېدل:

٤٧ – ٩٠٤ : عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلّا صَلّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتّى يُمْسِيَ، وَإِنْ عَادَهُ عَشِيّةً إِلّا صَلّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنّةِ ] (١)

---

(١) سنن الترمذي: كتاب الجنائز،بَابُ مَا جَاءَ فِي عِيَادَةِ الْمَرِيضِ (٩١٩)، بيا وايي: دا حديث حسن غريب دی، سنن أبي داود: كتاب الجنائز، بَابٌ فِي فَضْلِ الْعِيَادَةِ عَلَى وُضُوءٍ (٣٠٩٨) په دې شمېر يې موقوف او په (٣٠٩٩–٣١٠٠) شمېر باندې مرفوعاً روايت كړی دی، ابو داود رحمه الله وايي: له علي رضي الله عنه څخه په بل سند همدا حديث له نبي صلى الله عليه وسلم نه مسند هم روايت دی، امام الباني رحمه الله وايي: دا حديث صحيح موقوف دی او د مرفوع په حكم كې دی، او ترمذي ورته مرفوع حسن ويلي دي، او څوک يې موقوف بولي خو مرفوع نه، بيا وايي: زما په نيز روايةً او درايةً مرفوع دی، وګوره: (صحيح سنن أبي داود: ٢٧١٣)، او په صحيح الترمذي كې هم ورته صحيح ويلي دي (٧٧٥) أبواب الجنائز، باب ماجاء في عيادة المريض، سنن ابن ماجه: كتاب الجنائزبَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ مَنْ عَادَ مَرِيضًا(١٤٤٣) او الباني هم ورته په

ژباړه: له علي رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: داسې هېڅ مسلمان نشته چې سهار وختي د مسلمان ورور پوښتنه وکړي مګر اويا زره ملائک به ورله تر ماښام پورې دعاګانې غواړي، او که ماښام ورله پوښتنه وکړي نو تر سهاره پورې به ورله اويا

---

صحيح ابن ماجه کې په (۱۱۹۱) کې صحيح ويلي دي خو هلته الفاظ په دې توګه دي: [مَنْ أَتَى أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، عَائِدًا، مَشَى فِي خَرَافَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسَ، فَإِذَا جَلَسَ غَمَرَتْهُ الرَّحْمَةُ، فَإِنْ كَانَ غُدْوَةً، صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ كَانَ مَسَاءً، صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ ] او دارقطني رحمه الله په (العلل) کې په (۳۹۸) شمېره ذکر کړي دي چې دا حديث حکم بن عتيبه روايت کړی دی، له ده څخه پکې اختلاف بيا راغلی دی، اعمش له حکم بن عبدالرحمن بن أبي ليلی هغه له علي څخه، همدارنګه أبوشهاب حناط او ابومعاويه الضرير، او ابوبکر بن عياض، دابوبکر بن عياش روايت له علي څخه موقوف دی او نورو دوارو له اعمش څخه مرفوعا روايت کړی دی، شعبه له حکم څخه روايت کې له اعمش سره اختلاف کړی دی، حکم له عبدالله بن نافع څخه او هغه له علي څخه، نوپه رفع کې يې له شعبه سره اختلاف کړی دی، او محمد بن أبي عدي هم مرفوع ذکر کړی او عبدالرحمن المقرئ هم له شعبه څخه مرفوع ذکر کړی دی، او له دوی څخه پرته د شعبه نورو شاګردانو موقوف ذکر کړی دی.او ابومريم عبدالغفار بن القاسم له عبدالله بن نافع هغه له علي څخه موقوف روايت کړی دی، او ابويعلی بن عطاء له عبدالله بن نافع او هغه له علي څخه موقوف روايت کړی دی، داسې هم ويل کيږي چې له يعلی بن عطاء له عبدالله بن يسار نه روايت کړی دی. سمه خو دا بريښي چې د شعبه روايت مخه ور دی چې له حکم څخه، هغه يې له عبدالله بن نافع څخه او هغه له علي رضي الله عنه څخه موقوف روايت کوي، ځکه چې د شعبه زياتو شاګردانو روايت موقوفاً روايت کړی دی، او له حکم څخه پرې د ابومريم متابعت هم دليل دی، او يعلی بن عطاء له عبدالله بن نافع او هغه له علي رضي الله عنه بل متابعت هم ورباندې شتون لري، والله اعلم، او الباني رحمه الله هم ورته په سلسلة الأحاديث الصحيحة کې په (۱۳٦۷) شمېر باندې صحيح ويلي دي.

زره ملائک دعاګانې وغواړي، او د ده لپاره به دا له جنت څخه د میو شوکه هم وي.

په معصیت کې د چارواکو د خبرو منلو تحریم او په غیر معصیت کې یې د خبرې د منلو بهترې:

٤٨ – ٦٧٣ : وعن عبدِ اللهِ بن عمرو رضي الله عنهما، قَالَ: كنا مَعَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - في سَفَرٍ، فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا، فَمِنّا مَنْ يُصْلِحُ خِبَاءهُ، وَمِنّا مَنْ يَنْتَضِلُ، وَمِنّا مَنْ هُوَ فِي جَشَرِهِ، إذْ نَادَى مُنَادِي رسولِ الله - صلى الله عليه وسلم: الصَّلاةَ جَامِعَةً فَاجْتَمَعْنَا إِلَى رسولِ الله - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ: «إنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبيٌّ قَبْلِي إلاَّ كَانَ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ يَدُلَّ أُمّتَهُ عَلَى خَيْرِ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ، وَيُنْذِرَهُم شَرَّ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ. وَإنَّ أُمّتَكُمْ هذِهِ جُعِلَ عَافِيَتُهَا في أوّلِهَا، وَسَيُصيبُ آخِرَهَا بَلاَءٌ وَأُمُورٌ تُنْكِرُونَهَا، وَتَجِيءُ فِتنَةٌ يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا، وَتَجِيءُ الفتنَةُ فَيقُولُ المُؤْمِنُ: هذه مُهلكتي، ثُمَّ تنكشفُ، وتجيء الفتنةُ فيقولُ المؤمنُ: هذِهِ هذِهِ. فَمَنْ أحَبَّ أَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النّارِ، ويُدْخَلَ الجَنّةَ، فَلْتَأْتِهِ منيّتُهُ وَهُوَ يُؤْمِنَ باللهِ واليَوْمِ الآخِرِ، وَلْيَأتِ إِلَى النّاسِ الّذِي يُحِبُّ أَنْ يُؤتَى إِلَيْهِ.

وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ، وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ، فَلْيُطِعْهُ إن استَطَاعَ، فإنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الآخَرِ ] (١)

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې و نو په يو ځای کې مو پړاو واچو، ځوک بوخت ول او خيمې يې ودرولې او چا يو بل ته غشي ورکول او ځوک له خپلې رمې سره و، په دې کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مؤذن اواز وکړ چې لمونځ ته راشئ، ټول رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راټول شول بيا يې وويل: له ما څخه مخکې هيڅ نبي نه دی تېر شوی مګر دا پرې حق جوړ و چې خپل امت ته هغه خير ښېګړه وښايي چې ځومره يې پېژني، او له هغه شر څخه يې وډاروي چې دا يې پېژني،خو ستاسو د دې امت خير په لومړنيو کې کېښودل شوی دی او وروستني خلکو ته به يې سختې او تنکې رسېږي او له داسې چارو سره به مخامخ شي چې بدې به يې راځي، ځينې فتنې به يې داسې وي چې مخکنۍ به يې په نسبت ډېرې اسانې وي، داسې فتنې به راشي چې مومن به ډکې ووايي: په دې فتنې کې به مړ کېږم، خو فتنه به ختمه شي – او دا به ژوندی وي – بيا به بله فتنه راشي مومن به ډکې ووايي : دا خو بيخي ډېر ستر ازمېښت دی، خو که د چا خوښه وي له اور څخه بچ پاتې

---

(١) صحيح مسلم: كتاب الامارة،بَابُ الْأَمْرِ بالْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخُلَفَاءِ، الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ (١٨٤٤).

شي او جنت ته داخل شي نو مرګ دې ورته په داسې حالت کې راشي چې پر الله او د اخرت په ورځ يې ايمان وي، له خلکو سره دې هغه ډول برتاو وکړي چې  دا يې له نورو څخه طمع توقع لري، که څوک له چا سره بيعت وکړي او لاس يې په لاس کې کيږدي، د زړه اخلاص  (ميوه) ورکړي نو بيا دې ورله د توان په اندازه خبره هم ومني، خو که بل څوک راشي او په واک ورسره جنګ کوي نو د دوهم سړي څټ ووهئ.

د زکات د وجوب، فضيلتونه او ځيني مسائل

٤٩ – ١٢١٩ : وعن أَبي أيُّوب رضي الله عنه [ أنّ رَجُلًا قَالَ للنبيِّ صلى الله عليه وسلم أخْبِرْني بعمل يُدْخِلُنِي الجَنّة، قَالَ: «تَعْبُدُ اللهَ، وَلاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزّكَاةَ، وَتَصِلُ الرّحِمَ ] (١)

ژباړه: له ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته وويل: ما په داسې عمل وخبروه چې جنت ته مې

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الزكاة، بَابُ وُجُوبِ الزّكَاةِ (١٣٩٦)، صحيح مسلم: (١٣)، خو د مسلم روايت په دې توګه دی: [أَنّ أَعْرَابِيًّا عَرَضَ لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ، فَأَخَذَ بِخِطَامِ نَاقَتِهِ - أَوْ بِزِمَامِهَا ثُمّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ - أَوْ يَا مُحَمّدُ - أَخْبِرْنِي بِمَا يُقَرّبُنِي مِنَ الْجَنّةِ، وَمَا يُبَاعِدُنِي مِنَ النّارِ، قَالَ: فَكَفّ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، ثُمّ نَظَرَ فِي أَصْحَابِهِ، ثُمّ قَالَ: «لَقَدْ وُفِّقَ، أَوْ لَقَدْ هُدِيَ»، قَالَ: كَيْفَ قُلْتَ؟ قَالَ: فَأَعَادَ، فَقَالَ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزّكَاةَ، وَتَصِلُ الرّحِمَ، دَعِ النّاقَةَ ]

WWW.LARKHUD.COM

ننویستلای شي، هغه ورته وویل: د الله عبادت وکړه او ورسره هیڅ ډول برخه دار مه جوړوه، لمونځ سم دم کوه او زکات ورکوه او خپلولي وپاله.

د رمضان د روژې وجوب او د روژې د غوره والی وضاحت:

٥١ – ١٢٢٥ : عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [ إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ ] (١)

ژباړه: له سهل رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: په جنت کې یوه دروازه ده او (ریان) یې نوم دی د قیامت په ورځ به ترې ایکې یواځې روژه دار ننوځي او له دوی پرته به ترې نور څوک جنت ته ولاړ نه شي، وبه ویل شي، روژه دار جرته دي؟ دوی به پورته شي او له دوی پرته به ترې څوک جنت ته ولاړ نه شي، کله چې دوی ننوځي دروازه به پورې شي او هیڅ څوک به ترې جنت ته داخل نه شي.

د حج وجوب او غوره والی.

---

(١) صحيح البخاري: كتاب الصوم، بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ (١٨٩٦)، صحيح مسلم: كتاب الصيام، بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ (١١٥٢).



WWW.LARKHUD.COM

٥٢ – ١٢٨٣ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: [ العُمْرَةُ إِلَى العُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالحَجُّ المَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلّا الجَنّةُ ][1]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: عمره تر عمرې پورې هغه ګناهونه رژوي چې ترمنځ يې شوي وي، او د مقبول حج لپاره له جنت پرته بله بدله نشته.

WWW.LARHKUD.COM

(١) صحيح البخاري: كتاب الصوم، بَابُ وُجُوبِ العُمْرَةِ وَفَضْلِهَا (١٧٧٣)، صحيح مسلم: كتاب الحج، ٧٩ – بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجّ وَالْعُمْرَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ (١٣٤٩).